مورچل

دیارلسم کال، دویمه، پرلپسې ۱۲۶مه کښه،
جمادی الثاني ۱۴۴۰هـ ق فروري ۲۰۱۹م

د شوراب برید

زمونږ چتک غبرګون

- د شوراب جهادي معجزه
- پیشرفت مذاکرات و داد و فغان مدعیان حقوق زنان
- روان مذاکراتي بهیر د جهادي سرښندنو د محصول په توکه
- اشرف غني او د چنکیز ناتمام فصل

اشرف غني

دچا په مټ او زور ارک ته رسول شوی؟

شوراب کې

د سروهلو او سنګر نیولو شعار دفن شو!

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

ديارلسم کال دويمه، پرلپسې ۱۲۶مه ګڼه، جمادی الثاني ۱۴۴۰هـق فروري ۲۰۱۹م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	اشرف غني او د چنګيز خان ناتمام فصل	۲
۳	پيشرفت و داد و فغان مدعيان حقوق زنان	۴
۴	روان مذاکراتي بهير د جهادي سرښندنو د محصول...	۸
۵	اشرف غني د چا په مټ او زور ارګ ته رسول شوی؟..	۱۰
۶	د شوراب جهادي معجزه	۱۲
۷	شوراب کې د سروهلو او سنګر نيولو شعار دفن شو!....	۱۵
۸	امريکايان بايد په افغانستان کې شته واقعيتونه په پام...	۱۹
۹	د سعودي دولت يو بل دردوونکی اقدام	۲۱
۱۰	مصر کې د اعدامونو نوې لړۍ او دغرب منافقه څېره..	۲۶
۱۱	د اسلام غزوات او سرايا	۳۰
۱۲	د شهيد ملا عبد القهار متوکل رحمه‌الله ژوند ته لنډه کتنه	۳۵
۱۳	د ۲۰۱۹م کال دفبروري مياشتې جنګي جنايتونه).....	۳۹
۱۴	د مورچل وړمې	۴۲

د امتياز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير

صلاح الدين "صارم"

کتنپلاوی

حسن خپل | ايوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبير مسافر | حافظ سعيد

تخنيکي چارې

دفرهنګي کميسيون تخنيکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

د شوراب برید
زمونږ چتک غبرګون

دا چې سږکال دښمن دطالبانو دبریدونو تحمل ونه لاره، نو دژمي په راتلوسره يې دنورو کلونو په پرتله په ولسي خلکو خورا وحشت راټیټ کړ او په دې لړکې يې دهیڅ هغه څه لحاظ هم ونه ساته چې ظاهراً اقرار پرې کوي او انکار يې نه دی ترې کړی، خو په عمل کې يې څه نه دي ورپاته، نو ایمان، اسلامي شعایر او دټولو مقدساتو حرمت يې ترپښو لاندې کړ.

دوی په دې ډاډ چې مجاهدین په ژمي او سړه هواکې چټک غبرګون نه شي ښودلای، نو دخپلو بادارانو په مرسته او له هغوی سره یوځای يې له شته وسایلو په ګټه پرمجاهدینو دفشار او انتقام په غرض په عامو خلکو بمبارونه، چاپې اوبریدونه پیل کړل او په دې لړکې يې زمونږ ډېر بې ګناه هیوادوال شهیدان کړل، مدرسې،کلینکونه، مکاتب، جوماتونه او کورونه يې ویران کړل، ونې، فصلونه او څاروي يې له منځه یوړل، خوهیڅوا ددغو مظلومو افغانانو غږ وانه وربده تردې چې رسنیو هم په ډېرو پېښو کې له خلکو د دغه ډول تراژیدیو دخبر اوحال پټولو هڅه وکړه.

له دې سره سره چې مجاهدینو دنورو کلونو په خلاف سږ کال په ژمي کې ډېرې لاسته راوړنې لرلې او دسړې هوا له ستونزو سره يې بیا هم ډېرې سیمې فتحه کړې، خو ددښمن ددغو ظلمونو او چنګیزي وحشتونو او په ټبره دوروستیو بریدونو او ولسي انتقام په غرض يې دغبرګون ښودلو تایبا ونیوله چې بالاخره يې د هلمند په شوراب کې داجیرې اردو د میوند په ۲۰۵ قول اردو او بوستین خارجي کیمپ خپل تندریز ګوزارونه ترسره کړل او په دې ډول يې له کړې وعدې سره سم دولسي خلکو او اسلامي مقدساتو په حق کې چټک غبرګون وښود.

داشغالګرو اودهغوی د مزدورانو دغه مرکز او استوګنځای هسې عادي غونډ او لوا نه وه، بلکې په نظامي تشکیل کې پوره قول اردو ده اوداشغالګرو (بوستین کیمپ) له بګرام وروسته په هیواد کې د دوی ترټولو ستر مرکز یادیږي،هغه تچې دبرطانیې صدراعظم "تونی بلییر" پکې به ډېر غرور ویلي وو چې" دیویشتمې پېړۍ دامنیت پربکړه به دهلمند له دښتو کیږي" .

خو داسلامي امارت سربښندونکي مجاهدین په ډېر مهارت ور ورسېدل او ۴۶ ساعته له دښمن سره دهغوی په خپل مرکز کې وجنګېدل، په دغه شپږ څلوېښت ساعته جګړه کې (۹) تنه مېړنیو فدایانو د بې دفاع مظلوم ولس په انتقام کې (۳۹۷) تنه بهرني او کورني عسکر ووژل او دېلا بېلو نظامي وسایطو په له منځه وړلو سره يې دښمن ته تر (۱۰۰۸۹۳۰۰۰ سل میلیونه اته لکه دري نوی زره ډالره) زیات مالي زیان واړاوه .

په دې ډول اسلامي امارت دین، خاورې او خپل ولس دحقوقو خوندیتوب ته خپل تعهداو ژمنتیاثابته کړه او همداسې به دخپل بې دفاع ولس دفاع کوو اوپه همدې ډول به د هر تېرې په وړاندې چټک غبرګون ښیو .

فاعتبروا یا اولي الأبصار

اشرف غني او د چنګيز ناتمام فصل

زخمي افغان

اشرف غني چې واک ته رسيدلی نو له لومړی ورځې يې لفاظي، عوام فريبي او غولوونکي تبليغات او شعارونه هم پيل کړي دي. په دې شعارونه کې هغه څه چې نوموړی پرې بيا بيا ژبه ټکوي د (ناتمام فصل) د پوره کولو وعدې دي. اشرف غني کله ځان امان الله خان بولي او کله هم سردار داود خان او بيا د همدې دوو واکمنو د ناتمام فصل د پوره کولو وعدې کوي.

خو د وخت په تيريدو سره ثابته شوې ده چې اشرف غني نه خو د امان الله خان په شان د خپلواکۍ رګ لري او نه ورسره د سردار داود خان په شان د هيواد پالنې او ترقۍ فکر شته. بلکې د نوموړي يوازينۍ کارنامه دا ده چې هيواد يې د واکمن کيدو په دوهمه ورځ امريکايانو ته په قباله ورکړ او اوس درګړده لګيا دی د خپلو بيچاره هيوادوالو ختينې کوډلې او کورونه په عمدي تخريبي عملياتو کې له منځه وړي.

په افغانستان ډيرې بدې ورځې او سختې ابتلاوې تيرې شوي دي. خو دې هيواد په خپل ستونزمن تاريخ کې داسې واکمن ډير لږ ليدلي چې د هيوادوالو ودان کورونه پرته له کوم دليل او توجيه څخه نړوي او له منځه وړي. يوازې په منځنيو هجري پيړيو کې چنګيز خان هغه ليونی او وحشي يرغلګر و چې له ماوراء النهر ونيسه، تر افغانستان، فارس او قفقاز پورې ګڼ ودان ښارونه يې نه يوازې عمدا تخريب او له خاورو سره برابر کړل بلکې د دې ښارونو د څو پيړيو معنوي او علمي شتمنۍ يې هم تالا ترغه کړې.

له چنګيزي تاړاکه اته پيړۍ وروسته دا دی زمونږ هيواد يو ځل بيا د ورته ظالم او بې درده حاکم شاهد دی. چې نه يوازې د خپل اولس کورونه په بمبارونو، چاپو او يرغلونو کې نړوي، بلکې ښځې او ماشومان هم وژني، ځوانان د خپلو والدينو تر مخ چارماري کوي، سپين ږيري زندانونو ته اچوي، د خلکو شتمنۍ، پيسې او حتی د ښځو زيورات غلا کوي او هر قسم تاوان يې چې په وس ورسيږي، نه يې دريغوي.

دا څو مياشتې چې هر سهار په ټيلفون کې د واټساپ پر صفحه د افغانستان له بيلابيلو سيمو څخه راتلونکي خبرونه ګورم نو زياتره يې دا وي چې تيره شپه په پلاني کلي د صفر يک، کمانډو يا ضربتيانو په نوم د ګوډاګي رژيم ټوپکيانو د خارجي

اشغالګرو په مرسته چاپه وهلې، د ټول کلي د کورونو دروازې يې په بمونو الوځولې دي، کليوال يې په نيمه شپه د خوب له بسترو راپاڅولي، په نيم ګز واوره کې يې تر سهاره کينولي او د ماشومانو، ښځو، ناروغانو او سپين ږيرو په ګډون يې بيچاره کليوال په سخت ژمني يخ تعذيب کړي دي، ځانګړو داړه مارو ځواکونو د تلاشۍ په بهانه لومړی کورونه لوټ کړي، پيسې، زيورات او قيمتي توکي يې غلا کړي او وروسته يې لوټ شويو کورونو ته بمونه ايښي او له بيخه يې نړولي دي.

دا نه د يوې ورځې جريان دی او نه هم د يوې اونۍ يا مياشتې خبره، بلکې له څو مياشتو راپيل شوی هغه ناتمام تسلسل دی چې هره ورځ تکراريږي. نږدې په ټولو سيمو کې دغه تخريبي عمليات سره ورته دي، يوازينی فرق يې دا دی چې په ځينو ځايونو کې اضافه وحشت کيږی. هغه دا چې د کورونو تر څنګ د کلي مسجد هم نړول کيږي، لکه د غزني په دهيک، شلګر، د وردګو جلګه او ګڼو نورو سيمو کې. دغه راز په ځينو سيمو کې ديني مدارس هم په بمونو الوځول شوي او يا سوځول شوي دي. لکه د کاپيسا په تګاب کې د حميد المدارس په نوم هغه سل کلنه مدرسه چې د بنسټ يې د افغانستان ستر ديني عالم د تګاب فقير (شيخ الاسلام مولوي حميد الله اخندزاده) ايښی و.

خو دا يوازې د وطنوالو کورونه او جوماتونه نه دي چې اشرف غني يې د چنګيزي ناتمام فصل د تکميل په عملياتو کې په ناترسۍ له منځه وړي، بلکې له دې علاوه نور تاسيسات هم په امن نه دي، په دې وروستيو کې د اشرف غنی داړه مارانو د غزني ګيلان کې يو روغتون هم ونړاوه، دغه راز يې په بيلابيلو سيمو کې ګڼ شمير دوکانونه هم سوځولي. حتی د غزني مرکز ته نږدې د قره باغي په کلي کې يې د شيعه ګانو امام بارګاه هم باروتو والوځوله او کاملا يې تخريب کړه.

بل اړخ ته د بمبارونو او چاپو تر څنګ په ډروند بريدونو کې هم پرله پسې ملکي افغانان هدف ګرځي. په تيرو څو اونيو کې بيا بيا د عامو خلکود سپارلۍ موټر د بې پيلوټه الوتکو لخوا ويشتل شوي دي. د غزني په قره باغ او واغز کې د مدرسې هغه طالبان چې خپل درس ته روان و د ډرون برید هدف ګرځيدلي، د وردګو په شيخ اباد او د غزني واغز کې حتی هغه ښکاريان کليوال ډرون بريدونو شهيدان کړل چې د واورې په موسم کې د سويانو اونورو صحرايي ژوو په ښکار پسې وتلي وو.

د اشرف غني د ګوډاګي رژيم د ځواکونو او ظالمو اشغالګرو لخوا دغه وحشيانه بريدونه هغه څه دي، چې د چنګيزي وحشت يادونه را تازه کوي. انساني عقل او منطق په دې کې پاته راځي چې ددغسې بې منطقه او وحشيانه عملياتو لپاره دليل او توجيه پيدا کړي، اما هغه څه چې د دې عملياتو لازمي نتيجه او پايله يې بللی شو دا ده چې دغه ظالمانه کړنې به د لړزانده ګوډاګي رژيم تباهي نوره هم سريعه او رالنډه کړي. او د وخت بې دردې حاکم به د چنګيز، انګريز او شوروي خونريز په شان د تاريخي جلادانو په کټه ګوری کې حساب کاندي.

پیشرفت مذاکرات

و داد و فغان مدعیان حقوق زنان

حبیبی سمنگانی

با پیشرفت های امیدوار کننده در روند مذاکرات میان طالبان و امریکایی ها و بی قراری دونالد ترامپ برای اخراج سربازان امریکایی از افغانستان، سر و صدای مدعیان حقوق زنان درین کشور هنگامه ای برپا کرده است که گویا زنان و حقوق آنان قربانی صلح در افغانستان می شوند.

رسانه های سیکولار، غرب گرا و فمینست (Feminist) چنان وانمود می سازند گویا بقای حقوق زنانِ افغان به حضور نظامی خارجی ها درین کشور گره خورده و هرگاه نظامیان خارجی از افغانستان بروند، زنان افغان دوباره به قرن فلان و فلان خواهند برگشت و حضور فعال خود را در عرصه های مختلف جامعهء افغانی از دست خواهند داد.

مهم اینست که این داد و فغان، بیش تر از سوی زنان انگشت شماری بلند می شود که در سالیان اخیر از سوی نهادهای مختلف غربی، فمینستی و استعماری به حیث چهره های نمادین در عرصهء دفاع از حقوق زنان افغان مطرح شده اند.

رسانه های سیکولار و اسلام ستیز، بر مبنای برخورد خصمانه و معاندانهء که با فرهنگ اسلامی و کلتور افغانی دارند گفته و خواسته های این چهره های سمبولیک را با اهتمام زیادی در جامعهء جهانی و افغانی بازتاب می دهند، ایشان را نماینده گان واقعی زنان افغان جلوه می دهند و گویا درد دل زنان افغان را از زبان ایشان به جهانیان انعکاس می دهند و حمایت مالی و اخلاقی جامعه جهانی را جلب می کنند.

اما واقعیت اینست که افغانستان همزمان با تهاجم نظامی امریکا و ناتو، آماج هجوم فرهنگی نیز قرار گرفت. امریکا و غرب از روی اهداف استعماری و استثماری خود کوشیدند هر چه زود تر وضعیت فرهنگی، کلتوری و عنعنوی این کشور

مسلمان نشین را دگرگون بسازند. تا در آینده، به ویژه نسل بعدی افغان ها در زندگی فردی و اجتماعی شان احساس بیگانگی و نا آشنایی در برابر خارجی های اشغالگر نکنند و حساسیت های ضد غربی گرایی که اکنون در جامعه افغانی حاکم است به سرعت از بین برود.

تنگی دامان مقاله اجازه نمی دهد که با تفصیل و دلیل روی ابعاد مختلف این توطئهء شوم و نامیمون بحث بکنیم، و شاید لازم هم نیست. زیرا افغان های که اندکی هم آگاهی دینی و شعور ملی دارند به زودی و آسانی درک کرده بودند که با امواج خروشان فرهنگ و کلتور غربی مواجه شده اند و به حد توان کوشیدند خود و اهل و عیال خود را از مضرات آن مصئون نگه دارند، و لله الحمد، تا حد زیادی موفق هم شدند.

از همینست که امروز پس از هژده سال، مقاومت مردمی و جهادی افغان ها با گذشت هر روز قوی تر و گسترده تر می شود و نسل جدید افغان ها با افتخار بر تاریخ نیاکان مبارز و سلحشور خود، مردانه وار در مقابل استعمارگران امروزی می رزمند، جان های خود را در راستای پاسداری از دین و میهن نثار می کنند و اینک به دروازهء پیروزی حتمی رسیده اند.

حمایت پیهم کشورها، سازمان ها و نهاد های غربی و سیکولار از بعضی این چهره های نمادین،

بیانگر منافقت و دو رویگی سیاست و پالیسی های غربی ها است. آن ها از یکسو پالیسی های بسیار تند در برابر تولید، قاچاق و فروش مواد مخدر دارند، اما از سوی دیگر خانم فوزیه کوفی (نماینده بدخشان در پارلمان کابل) را تقدیر و تمجید می کنند و زن با ابتکار افغان جلوه می دهند. در حالیکه اسناد و شواهد کافی وجود دارد که این خانم جزو مافیای بین المللی قاچاق مواد مخدر است. او و دیگر اعضای خانواده اش با استفاده از موقف دولتی شان تجارت مواد مخدر را در ولایت بدخشان در مرز افغانستان – تاجکستان کنترول می کنند و برادر و

شوهر خواهر خانم کوفی همین اکنون به جرم قاچاق مواد مخدر در زندان بسر می برند.

فرد فرد باشندگان بدخشان می دانند که خانواده کوفی در قاچاق مواد مخدر آلوده هست. اما خانم کوفی از سوی غربی ها مدال ها و جائزه ها می گیرد و بدون اندک احساس شرم و ملامتی، لاف نمایندگی از قشر زنان را می زند. در چنین صورت، آیا افغان ها نمی دانند که نهاد های غربی، رسانه های سیکولار و این چهره های نمایشی، چقدر در شعار های حقوق خواهی زنان صادق هستند ؟

همچنان درین سال ها یک آواز خوان زن که از خوردسالی در غرب زندگی می کند و گاه گاهی و آن هم تنها برای آوازخوانی و در حقیقت برای ترویج فحشا به کابل می آید از سوی جهت های استعماری به حیث مدافع حقوق زنان یاد می شود، وزارت اطلاعات و فرهنگ اداره‌ء کابل لقب «صدای زن افغانستان» را به او داد. همچنان ستولتنبرگ، منشی عمومی سازمان ناتو او را «الگو برای زنان افغان و جهان» خواند. نیز یک نهاد غربی در فهرست «ده چهره تاثیرگذار جامعه افغانی» جا داد.

اما اگر بیوگرافی، سرگذشت و کارنامه های این خانم مطالعه شود، جز تمسخر بر کلتور افغانی به ویژه اهانت به پوشاک افغان ها دیگر «ابتکاری» پیدا نمی شود. این نشان می دهد که هدف و اولویت غربی ها در عرصه‌ء دفاع از حقوق زنان چه است. واقعیت اینست که زنان افغان در عرصه های زیادی زندگی از حقوق اساسی خود بی بهره هستند و باید برای آن جستجو و مبارزه کرد. اما غربی ها تنها بر این تمرکز دارند که چگونه می توانند زنان افغان را از قید حجاب اسلامی و پوشاک محلی «رها» بسازند.

بخش بزرگی از مدعیان حقوق زنان را چنین مهره های نمایشی تشکیل می دهند که در حقیقت با حمایت مالی، اخلاقی و رسانه یی غربی ها، مشغول جنگ با تعلیمات اسلامی و فرهنگ افغانی هستند. یک نهاد امریکایی به نام بنیاد آسیا (The Asia Foundation) در سروی سال ۲۰۱۶م می گوید که تنها ۱,۱٪ افغان ها به این باور اند که بیرون شدن زنان از خانه بدون چادر اشکالی است. گویا غربی ها با همه توانایی که در یک و نیم دهه به خرج داده اند نتوانسته اند باور های مذهبی افغان ها را چندان تغییر بدهند. اما هنوز هم با استفاده از شعار «حقوق زنان» به مخاصمت خود در برابر ارزش های فرهنگی افغان ها ادامه می دهند و گویا ترس دارند در صورت آمدن صلح و حاکمیت نظام اسلامی، این ۱٪ افغان های که مخالف چادر هستند چه خواهند کرد. هر چه مشکلات اساسی و واقعی ۹۹٪ زنان افغان برای آن ها نه قبلا اهمیتی داشت و نه اکنون دارد.

روش معاندانه سازمان ها، نهادها و مدعیان حقوق زنان در افغانستان سبب شده است که در ۱۸ سال گذشته، نه تنها پیشرفتی برای حل مشکلات واقعی زنان افغان صورت نگرفته، بلکه مردم دین دوست این کشور هیچ باوری بر فعالیت های اسلام

ستیزانهء آن ها ندارند و داد و فغان کنونی آن ها را جز «اشک تمساح» چیزی دیگری نمی دانند.

بدون شک، چنانکه پیامبر اسلام – صلی الله علیه و سلم - در صدر اسلام حیات تازه یی برای زنان بخشید، با از بین بردن رسوم شرمناک دوره جهالت، زنان را زنده در گور ساختن نجات داد و از حقوق انسانی برخوردار ساخت، امروز هم نظام اسلامی تواند با درک مشکلات واقعی زنان، حقوق واقعی آن ها را تضمین بکند.

امارت اسلامی که خواهان نظام اسلامی است نیز همواره بر نقش کلیدی زنان در جامعه اسلامی افغان ها تاکید کرده است. چنانکه در متن سخنرانی نماینده امارت اسلامی در نشست بین المللی و بین الافغانی مسکو آمده است:

«امارت اسلامی زن را معمار جامعهء مسلمان می داند و به همه آن حقوق زنان قائل است که دین مقدس اسلام لطف کرده است.

اسلام همه حقوق اساسی، مثلا : تجارت، ملکیت، میراث، تعلیم، کار، انتخاب شوهر، امنیت، صحت و حق زندگی خوب را برای زنان داده است. همچنان رسول الله صلی الله علیه وسلم در آخرین لحظات زندگی خود توصیه به برخورد شایسته با زنان کرده است. این همه مواردی است که زنان را از رسوم و رواج های وحشتناک زمان جاهلیت نجات داد و به مراتب عالی معرفت، اخلاق و عزت رسانید.

امارت اسلامی از ابتدا پالیسی جامع و واضح پیرامون حقوق زنان داشته است. اسلام و افغانیت چون دو ارزش بزرگ ملت مجاهد افغانستان است، بناءً امارت اسلامی در چوکات اسلام و افغانیت خود را به همه حقوق زنان متعهد می داند.

خط مشی امارت اسلامی اینست که حقوق زنان طوری مصئون گردد که نه حقوق مشروع آنان پامال شود و نه هم کرامت انسانی و ارزش های اسلامی و افغانی شان با خطر مواجه شود. نیز امارت اسلامی متعهد است همه آن رسوم و رواجهای را که حقوق زنان را سلب می کند و با مقررات اسلامی مطابقت ندارد، از بین ببرد و ماحول مصئون برای زنان آماده بکند».

به امید صلح دائمی و حاکمیت نظام اسلامی در سراسر افغانستان.

معین احمد معین

روان مذاکراتي بهیر

د جهادي سرښندنو د محصول په توګه

د اشغال په مقابل کې د افغان ولس بیساری مقاومت او بیدرغه قربانیو بالآخره اشغالګر امریکایان د دغه مقاومت برحق والي او مشروعیت منلو ته اړ او له هغوی سره مخامخ مذاکراتی بهیر ته حاضر شول چې تر اوسه پوری د دغه مذاکراتی بهیر څو مرحلې په موفقیت سره تر سره شوې.

دا له شکه پرته چې لویه بریا او په تاریخي لحاظ د ټول افغان ولس لپاره د ویاړ ځای دی.

دغه ویاړ لومړی د الله جل جلاله د نصرت او بیا د افغان مجاهد ولس د شهادتونو، جراحتونو ، اسارتونو او نورو سرښندنو محصول دی.

له اشغالګرو سره اتلس کلن جهادي مقاومت د الله په نصرت او د افغان ولس د حمایت په نتیجه کې رامنځته شوی، لهذا د دغه جهادي مقاومت افتخارات، کارنامي او لاسته راوړنې د ټول ولس د فرد ، فرد داسي ویاړونه او لاسته راوړنې دي چې د الله تعالی په نزد به وربانديې ماجور او د نړۍ د ولسونو په منځ کې به وربانديې هسک سري وي ان شاء الله.

د دې لاسته راوړنو په نتیجه کې چې د هیواد کوم راتلونکی سیاسي نظام جوړیږي هغه به د ټول ولس د اسلامي او ملي آرمانونو ممثل وي. په هغه کې به د ولس ټول اقشار خپل ځای لري، د حقونو رعایت به یې کیږي او په ټولنې کې د سیاسي او ټولنیز حیثیت درناوی به یې کیږي.

اشغالګرو امریکایانو په ډیر وحشت پر افغانستان یرغل وکړ .هغوی د دې یرغل د توجیه کولو لپاره یې ډیرې داسې پلمې تراشلې وې چې ممکن اوس به د افغان جهادي اتلوال مقاومت له برکته هغه ټولې تړې هیرې شوې وي .

پر افغانستان د وحشیانه یرغل پـه تـرخ کـې د امریکایانو نیږدي ۴۰۰۰ امریکـایي سرتیـري مـړه تـر ۲۰۰۰۰ زیات زخمیان او په تریلونونو ډالر یې ورکي برباد شول، خـو دغـو ټولـو بشرې او مـالي تلفـاتو د افغان مسلمان ولس مقاومت نه خاموش کړای شـو او نه هم کمزوری؛ بلکې ورځ تـر بلـې دومـره ځـواکمن شو چې نه یـوائي د امریکـایي جنرالانـو غـرور یـې ورمات کړ ، بلکې د هغـوی د ۴۸ ایـتلافي هیوادونـو مجهزو ځواکونو او په نړیواله کچـه ځـواکمن پـوځي ټرون ناټو نظامي وړتیا یې هم ونګوله چې اوس ټول له افغانستان څخه دخپلوځواکونو دوتلو په لټـه کـې دی.

دا چې لـه اتلـس کلـن اشـغال او زور ازمـایی وروسـته اوس لـه امریکایـانو سره پـه افغانسـتان د دغې ناکامې جګړې د ختمولو او افغانستان د اشـغال ختمولو نظر درسره پیداشـوی دا یـو ښـه فرصـت او د هغـوی لبـاره یـو ښـه اقـدام دی .پـه تـاریخي لحـاظ افغانان د امریکایانو په شمول د ټولې نړۍ محسـنین دي، پـه اتیـاییزې لسـیزې کـې د افغانـانو دجهـاد او سرښندنو په برکت ټوله نړۍ د کمونیزم له خطر څخـه وژغورل شـوه او خاصـتا امریکـا د افغـان جهـاد لـه برکته د نړۍ د یوقطبي توب مقام ته ورسیده.خـو لـه بده مرغه چې امریکایانو د خپلو محسنینو افغانـانو د احسان بدله د هغوی د هیواد په اشغالولو سره ورکړه .

اوس چې د مذاکراتی بهیر په ترڅ کې افغانانو له امریکایانو سره د نوي تعامل صفحه پرانیستي باید امریکایان د اشغال د مهال خپلې ټـولې نیمګړتیـاوې ورکې جبیره کړی.

د امریکایي اشغال په دوران کې چې هرچـا لـه افغـان ولـس سره هـر منفـي او مثبـت تعامـل کـړی افغانـانو هغـه درک کـړی. خـو تـر اشـغال وروسـته افغانستان کې به د افغانـانو تعامـل لـه هرچـا سره د متقابل احترام پر اساس وي، افغانان لکه څرنګه چـې د خپل هیواد آزادي ، خپلواکي او سـوکالي غـواړي د افغانستان د ګاونډیانو، منطقې او ټولې نـړۍ لپـاره د امن او سوکالي غوښتونکي هم دی.

مسلمانان که په هرنژاد پوري تعلق لري او د نـړۍ پـه هره جغرافیه کې ژوند کوي ټول دیوه اللـه بنـده ګـان اودیوه دین او یوه نبي پیروان دي.

افغانستان د اسلامي امت له کتلې نه، نـه بیلـدونکې برخه او دا چې د اسلام په دفاع کې ډیر ژوبـل شـوی نو د هغه بیا رغاوی او د مسلمانو افغانانو لاس نیـوی د ټول اسلامي امت مشترک مسـؤلیت دی ، افغانـان هیله من دي چې ټوله اسلامي نړۍ بـه د حکومتونـو او ولسونو پـه کچـه د راتلـونکي افغانسـتان پـه بیـا رغونه کې خپل سهم اخلی او ځوریدلیو افغانـانو تـه به د هغوی د هیـواد پـه هـر اړخیـزی مرسـتی کـی د ملاتړ لاس ورکوي.

اشرف غني

خليل ـ عزيز

دچا په مټ او زور ارګ ته رسول شوی؟

دکابل رژيم بې سترګو او له حيا او وجدان څخه خالي ولسمشر اشرف غني تيره اونۍ په کونړ کې خپلو مدني فعالانو ته دخبرو په ترڅ په دې سربيره چې دافغانستان نومیالي مشر احمد شاه بابا ته يې توهين او سپکاوی وکړ چې هغه قدرت ته په زور او جبر رسيدلی وو دځان په اړه يې عجيبه طمطراقی وکړه وی وئيل چې تنها دی دخلکو په خوښه اواراده دواک ګدی ته رسيدلی.

اشرف غني په ډير لجاجت او سپين سترګی زياته کړه چې دامريکايانو په ټانګونو او چورلکو ارګ ته ندی ننوتلی اونه هم کومه ورځ امريکايی بادیګاردان ورسره ګرځيدلي .

خو حقائق ډير برالا او لکه لمر روښانه دي، که امريکايی ټانګونه، الوتکي اولکونه امريکايی عسکر نه واي هيڅکله ممکنه نه وه اونه هم ده چې اشرف غني دي دافغانستان په پاک حريم هسې يوقدم هم ايښی وای ؛ واک ته رسيدل او ارګ ته ننول خو پرځای پريږده.

اشرف غني دې ووايی که جانکيري نه وای د هغه اوډاکټر عبدالله لاسونه به چا پورته کول او اجازه به يې ورکوله چې نور ارګ ته داخليدلای شی او د وحشت ملي په نامه په ګندګيو،

جرمونو او جنایاتو لت پت رژیم او اداره جوړولای شی؟

دغه امریکایی مفکر ! دې ووایی چې تا په خپله خوله دری کاله وړاندي له طلوع تلویزون سره په مرکه کې ونه وئیل چې که امریکایان نه وي او لږ ترلږه یوه اونی یواځي تیل راباندي بند کړي زمونږ اداره به سقوط او نسکوریږی

دغه ډول اشرف غني که ته رشتیا هم په خپلو متو اودخلکو په خو ښه راغلی او قدرت ته رسیدلای وای نو دواک په دویمه ورځ دې دکوم مصلحت اوضرورت له مخې دافغانستان دخرڅلاو قباله له خپلو بادارانو امریکایانو سره لاسلیک کړه اودامنیتي ترون په متن کې دې دماده ورزیاته کړه چې امریکایی عسکر په افغانستان کې هرډول قضایی مصؤنیت لري ، په دې معنا چې هرڅومره افغانان وژلای شي فوق العاده اجازه لري ،ولې هیڅ یوافغان نشي کولای چې کوم امریکایی عسکرووژني دوژلو په صورت کې امریکایان حق لري چې هغه افغان ونیسي وې وژني اویایې محکمي ته وړاندې کړي !!!

همداوس چې امریکایانو له طالبانو سره مخامخ مذاکرات پیل کړي اوتقریبا دې نتیجي ته رسیدلي چې امریکایی پو ځیان به له افغانستان څخه وزی، که اشرف غني ته به ذات خود رښتیا افغان وی اوپه خپله اراده او پښو ولاړ وای او دامریکا دغلامی طوق لعنت دې په غاړه کې نه وای پروت نو ددغو مذاکراتو مخالفت به دې نه کاوه اوپه هغه سربیره ټرامپ ته به دې هغه پټ لیک نه لیزه چې دافغانستان ټولې اقتصادي زیرمي ، معدنیات او کانونه دې درنه ځار اوقربان شه ؛ خو پام له افغانستان څخه امریکایی پو ځیان ونه باسي چې ستا دوتلو له محض اعلان سره به دکابل ټول نظام وپاشل شي او په اصطلاح ۱۷ کلني لاسته راوړني به خاوري ایري وګرځي

نواوس هم که ته اشرف ګل ځان په امریکایی ټانګونو او چورلکو کې سپور اوراوړل شوی نه بولي اوخیاطان دې بیا هم چکچکي درته وهي زرکلن دې بولي اوفکر کوي چې لدې ورسته به دافغانستان بیړی په سمه کړي نو بیا خو له شک پرته یا ټول پلاستیکي معدي لری اوکوپړی مو له خاور ایرو اوسپیرو بوسو ډکي دي او یا هم تردو غوړونو پوري احمقان یې؛ خوالله تعالی دربار ته لاسونه لپه کوو چې که په هرحالت او شکل کې یې نور مو دافغان ولس له سر او سرنوشت څخه زر ورک او نیست اونابود کړه (امین ثم امین !!

د شوراب جهادي معجزه

شاهد (غزنیوال)

د روان میلادي کال د مارچ د میاشتې په لومړۍ نیټه د جمعې په شپه دوې بجې طالبانو د هیواد په جنوب هلمند ولایت کې د شوراب پر لویه پوځي اډې برید وکړ.

شوراب پوځي اډه په هیواد کې تر بګرام امریکایي اډې وروسته د بهرنیو یرغلګرو تر ټولو مهمه اډه ده چې په زرګونو بهرني یرغلګر ورکې پنډ دي.

شوراب پوځي اډې د اشغال په اوائلو کې تر ډیره د برتانوي ځواکونو میشتن ځای و چې د هیواد په جنوب په تیره د هلمند په ولایت کې یې خپل ټول پوځي سوقیات له همدې اډې څخه تر سره کول.

دم ګړۍ هلته د کابل رژیم د دفاع وزارت اړوند د ۲۱۵ نمبر میوند قول اردو ترځنګ (۲۰۰) امریکایي اشغالګر هم میشت او د هیواد په لویدیځ زون کې د خپلو ځمکنیو او هوایي عملیاتو پلانونه هم له همدې اډې څخه پلي کوي.

شوراب پوځي اډه په یوه نسبتا کمکي هوایي ډګر، د هوایي مدافعې د کنټرول لپاره په نصب شویو راډارونو او د کشف او مراقبت په پرمختللو وسائلو مجهزه ده .

طالبان څرنګه هلته داخل شول؟

له پوځي نقطه نظره دغسې یوه خوندي او تر شدیدو امنیتي ترتیباتو لاندې هدف ته چې د څارنې

لپاره يې پوره اووه محافظتي قراولونه موجود او ځمکه او فضا يې ټوله د مراقبتي وسائلو تر څارنه لاندې وي د متعددو وسله والو ورداخليدل ناممکن دي.

خو طالبانو د الله په نصرت او خپلو جهادي معجزانه تکتيکونو سره د بهرنيو يرغلګرو او د هغوی د داخلي ملاتړو خلاف ډير ځله دغه ډول حيرانوونکي بريدونه تر سره کړي او همداسې متحصنو مراکزو ته ورداخل شوي چې په ظاهره هلته ورننوتل ناممکن وي.

د بريد زماني او مکاني انعکاسات:

پر شوراب اډې د طالبانو هيښوونکی بريد په داسې وخت کې تر سره شو چې په قطر کې د امريکايي يرغلګرو او طالبانو ترمنځ سياسي مذاکرات جريان لري.

معمولا په دغه ډول حالاتو کې د جګړې متخاصم لوری هر يو پر مقابل جانب باندې د پوځي تفوق هڅه کوي تر څو وکړای شي په مټ يې په مذاکراتي بهير کې سياسي امتياز تر لاسه کړي.

په دغه ډول حالاتو کې ايجاب کيږي چې هره خوا په نظامي لحاظ د فوق العاده لومړي نمبر محاربوي احضاراتو په حال کې اووسي.

خو طالبانو د دښمن له دغو محاربوي احضاراتو سره سره وکړای شول چې شوراب مهمه اډه د خپل بريد هدف وګرځوي او په ترڅ کې يې دښمن ته د سر او مال درانه تلفات واړي.

د مذاکراتي بهير په اثناء کې د دغه وړ تکتيکي بريد تر سره کول پر پوځي پيغامونو سربيره له سياسي اړخه هم خپل ځانګړي پيغامونه لري .

او هغه داچې له امريکايانو سره د مذاکراتو پر ميز د طالبانو مخامخ خبرې د هغوی د پوځي کمزوري له وجې نه ؛ بلکې په نظامي برخه کې د فوق العاده بريالي جهت په توګه دي چې غواړي نور د تل لپاره له افغانستان څخه د جګړې ټغر ټول کړای شي.

له پوځي لحاظه هم پر دغسی مهم پوځي مرکز چې په هغه کې پر يوه مجهز قول اردو سربيره بيشميره بهرني پوځيان هم شتون لري د نهو تنو فدايانو برید کول د پوځي معادلاتو له مخې يو حيرانوونکی ګټل کيږي.

حيرانوونکی ځکه دی چې د شوراب پوځي اډه پر ۲۱۵ ميوند قول اردو سر بيره پرنورو ډيرو پوځي تأسيساتو هم شامله ده.

هلته له بهرنيو پوځيانو پرته يواځې د ميوند قول اردو د عسکرو شمير له تشکيلاتي اړخه ۳۶۰۰۰ تنه دي.

که پر هغوباندې د بهرنيو عسکرو او نورو پوځي تأسيساتو امنيتي پرسونل ور

اضافه شي نو خامخابه يې شمير ۴۰۰۰۰ کسانو ته رسيږي.

خو د تعجب ځای دا دی چې ۹ تنو جهادي سرښندونکو څرنګه وکړای شول چې په يواځې سر دغه ۴۰۰۰۰ کسان د دريو ورځو لپاره مصروف کړي؟!

بلي ! همدې ۹ تنو سرښندونکو اتلانو وکړای شول چې ۴۶ ځلويښت ساعته په خپلو سپکو وسلو د بهرنيو پوځيانو په شمول له يوه مجهز قول اردو سره پوځي مقابله وکړي.

هغه قول اردو چې هلته له بي شميره پرمختللیو پوځي او استکشافي الوتکو نيولې تر زرګونو شوبلو او لسګونوزره وسلو او پوځي وسائطو پوري هرڅه موجود وو.

مګر ددې هڅه باوجود ۹ تنو جهادي اتلانو وکړای شول د دښمن له دغه زيات شمير افرادو او د هغوی له ټولو پوځي تجهيزاتو سره د هغوي مرکز ته ور دننه ، هلته تر دوه شواروزه زيات وخت مقاومت وکړي او هغوی ته د سر او مال درانه تلفات واړوي.

دغه ډول هيښوونکی برید له دې پرته چې جهادي معجزه وبلل شي په معاصرو عسکري مصطلحاتو کې ورته بل هيڅ نوم نه شي ورکيدای...

شوراب کې

د سروهلو او سنګر نیولو شعار دفن شو!

■ بشیر

که یوخوادسولې راتلو او هیواد نه دخارجي ځواکونو دوتو لپاره دطالب مرکچیانواو دامریکا یې مذاکراتي ټیم ترمنځ په دوحه کې چنې وهل روان دي، هر لوری هڅه اوزیارباسي چې مقابل لوري ته دمیز په سرشکست ورکړي او دخپل هیواد او ولس لپاره زیاتې بریاوې او افتخارات ترلاسه کړي

خوددې سره یوځای دجګړې ډګر هم سوړ ندی، دواړو لوریوترمنځ جګړه هم په شدت سره دوام لري هر لوری کوښښ کوي چې مخالف لوري ته زیات ځاني او مالي زیانونه ورسوي

دجګړې اور هغه مهال لاپسې نور شدید شو کله چې دکابل رژیم مشر اشرف غني ته دا جوته شوه چې امریکایان خامخا دافغانستان دوتلو هوډلري او هغوی نور دلته دتم کیدو او دجګړې غځولو حوصله نلري چې ښکاره مثال یې وړاندې په ابوظهبۍ او اوس دوحه کې د طالبانو اوامریکایانوترمنځ دځواکونو وتلو لپاره دمیکانزم جوړولو بحثونه اوخبرې دي چې پکې دواړه لوري پوره دلچسپې او علاقه ښیي

دکابل رژیم ددې ټول جریانه کابل رژیم بیرون دی زکه طالبان لا تراوسه په دې ندي قانع شوي چې دکابل رژیم سره مذاکرات او خبرې و کړي

دسیاسي کتونکو په اند: دا داشرف غني ، دهغه کابینې او حکومت لپاره د خجالت نه ډکه مرحله ده چې امریکایانو دهغوی دګډون پرته طالبانو سره خبرو اومذاکراتو ته دوام ورکړی او پکې دکابل

رژیم لخوا یو نماینده هم ګډون نلري، ښیي اوس مهال دافغانستان اصل واک دامریکایانو او یا طالبانو سره دی په منځ کوم دریم قوت نشته

دې کار اشرف غني خورا احساساتي او ورخطاء کړ که امریکایان ووتل نو دده واک خو به یوه اوونۍ هم دطالبانودبریدونو تاب ونلري اوژر به نسکور شي، نوسملاسي یې یوشمیر خپل سخت سري مخالفین چې یو وخت هغوی اشرف غني ته کنځل کول لکه امرالله صالح اونور... په ځان دراټولولو کوښښ وکړ ورته لوړې ځوکۍ او لالچونه یې ورکړل او دهغوی دځایولو لپاره یې دخپلې پخوانۍ کابینې څو وزیران له دندو ګوښه کړل ، امرالله صالح یې دکورنیو چارو سرپرست وزیر او اسد الله خالدیې ددفاع وزارت سرپرست په توګه وټاکل

اسد الله خالد په کومه ورځ چې دفاع سرپرست وزیر په حیث دنده پیل کړه، دطالبانو پخلاف یې تونده اوتیره ژبه وکارولە، دسروهلو او سنګر نیولو شعار یې پورته کړ، ګڼې لاپې شاپې یې وکړې ،په امریې دهیواد په ځینو ولایتونو کې دملکي خلکوپه کورونو باندې چاپې پیل شوې، دینې مدرسې او مساجد یې په نښه کړل اوداسې ذهنیت یې خور کړ چې ګواکي کابل رژیم نور له دفاعي حالت نه تعرضي حالت ته په وتوبریالی شو،خوطالبانو هم دخالد ګواښونو او اخطارونوته په حتمي غبرګون ښودو سره په میدان ښار، فاریاب او دهلمند په شوراب کې دده دلاس لاندې زرګونه عسکر مړه اوټپیان کړل او ښکاري چې دنومورې اخطارونه اوګواښونه بیرته دکابل رژیم پخلاف تمام شول او طالبان یې لا متوجه کړل چې قوي بریدونه وکړي دکومو له امله چې درژیم ځواک ته نه جبرا نیدونکي زیانونه واوښتل

دطالبانو دبریدونو په لړکې دمیدان وردګ اوفاریاب دبریدونو وروسته دهلمند دشوراب په پوځي اډې بریدخورا هیښوونکی او بریالی و،چې دطالبانو د منابعو په وینا: په دې کامیاب او مؤثربرید کې د دوی ۹ تنو فدائي مجاهدینو برخه درلوده ،کوم چې د درې لوریو څخه په کامیاب تاکتیک کارولو دپوځي هډې داخل ته په ننوتو وتوانیدل اوهلته یې لومړی برید دکارنیزون په ودانۍ ترسره کړ او پکې موجود لوی شمیر لوړپوړي پوځي صاحب منصبان یې ووژل او بیا دهډې مختلفو برخوته یې عملیات وغځول چې تر۴۶ساعتونو پورې یې دوام وکړاو په دې ۴۶ساعتونوکې کابل رژیم او امریکایانو څوځله رسنیو ته د برید دپای ته رسیدو خبرونه ورکړل لیکن بیا به هم طالبانو او ځینو ازادو رسنیو دبرید د دوام په اړه ژوندي راپورونه ورکول چې جنګ او مقاومت دشوراب اډې په داخل کې لا روان دی

دطالبانو دویاند قاري محمد یوسف احمدي لخوا رسنیوته په لیږل شوي راپور کې راغلي چې دیاد برید په نتیجه کې ۳۹۷تنه بهرني اوکورني عسکر وژل شوي، په دې کې ۱۳۷تنه امریکایې یرغلګر،۱۵تنه پیلوټان ،

۱۸تنه دالوتکو اینجنرانو۱۹تنه دالوتکو اینجنران ژوبل شوي ، دنوموړي په وینا: دشوراب په عملیاتو کې دکمانډو عسکرو قومندان منصور په شمول ۲۶۰ تنه کورني اجیران عسکر وژل شوي ،په هغوی کې ۱۴۲تنه کمانډویان او ۱۱۸تنه نورعادي اجیران عسکر راځي او په دې علاوه ۷۳تنه ګوډاګي عسکر ټپیان شوي دي

په دې سربیره دطالبانو دویاند په قول: دشوارب بریدکې دخارجي یرغلګرو۳۳ هاموي او۱۹ ضربتي ټاګونه تخریب شوي، ۲۷عراده رینجري ۲۱عرادې انټر نیشنل رینجر، ۷عرادي پوځي امبولاینسونه ۱۱ عراده دتیلوټانکرونه، یوه لوجیستکي ډیپو،یوه دمهماتو ډیپو همدا راز دالوتکو ورکشاف، دټانګونو اورینجرو ورکشاف ، ګن شمیرکانټینرونه او ولاړې پوځي خیمې تخریب اوله منځه تللې

دکتونکو په نظر ددې پورته ټولومرګونو اوزیانونو مسؤلیت داشرف غني وروسته اسد الله خالد ته راجع دی ، ویل کېږي اسد الله خالد دکوچنیوالي نه په یوبداخلاقه ماحول کې لوی شوی او کرغیړنه ماضي لري دمختلفو هیوادونو دځارګرۍ اداروسره دجاسوسۍ مزي ټړل شوي وو او دبهرنیانو نوکر اوخدمتګاردی

دداسې بې ضمیره شخص نه هیڅکله داتمه نشي کیدای چې هغه به واقعاً افغان او مسلمان وي،کله چې په کندهار کې والي و هلته یې هم دډیر شرم نه ډک کارونه کول، ترشخصي زندانو او په هغو کې جنسي- تیریو پورې داستانونه یې عام وو ، بیا دهغه وروسته چې دملي امنیت رئس شو ، په زندانو کې په طالبانو او مظلومانو باندې دظلمونو چپه میچنې وګرځولې تردې پورې چې د حقوق بشر- سازمان یې هم نوم دبشري حقونو دسرغړونکو په ډله کې ولیکه ،د طالبانو لخوا په یوکامیاب برید کې چې کله سخت ټپي شو، ددرملنې لپاره امریکا ته ویوړل شو هلته امریکا یانو یې ورته ټپونه وګنډل، ډیره زمانه ورک و ، کله چې اشرف غني ته نورځوک ورپاته نشول نودغه لیونغرت یې ددفاع وزیر په صفت وګومارە ، او بیا هم دخپل وحشي خوی وبوی نه په کرار نشو په امر یې دنورو ظلمونو او وحشتونو ترڅنګ مدرسې اومسجدونه بمبارد شول په کومو کې چې واړه، واړه ددیني سبقونو ویونکي نابالغه ماشومان شهیدان شول ،بازارونه یې وسیزل، دعاموخلکوکورونه، روغتونونه اوښوونځي یې په نښه کړل څنګه چې په دې یادو ظلمونو کې ډیره ونډه دپیلوټانو هم وه، طالبانو په خاصه توګه هغوی (پیلوټانو) ته هم دخپلو بدو کړنو سزا ورکړه او په شوراب کې یې دنورو ترڅنګ دوی هم دخپل برید هدف وګرځول چې شاوخوا ۱۵تنه پکې ووژل شول اونور هم هغه مجرمین چې مخامخ په یادو

جنـایتونوکې یـې پـه یـو نـه یوډول لاس درلود دخپلو بدو کړو وړو پـه انجـام ورسـیدل او دهغـو مظلومـو، بـې وسـو ماشـومانو، میرمنـو اوسـپین ږیـرو انتقـام الـله تعـالی لـه هغـــوی څخـــه واخیســـت ،دطالبـانو فـدائي مجاهـدینو خپلـو تانـدو ځوانیـو او پـاکو وینوپـــه تویولـــو دملـــت دمظلومـانو غـچ د جـابرانو او ظالمـانو څخـه واخیسـت او وحشتګرو یې وښوده چې غـر که هرڅو لوړ دی خو پـه سر یې لار تللې، دوی کـه هرڅـو دامریکـا اونـاټو پـه اسـبابو اوډالرو باندې ترپوزو مجهـز دي خـو دایـماني او افغـاني همت وسله هم دومـره قـوي ده چـې دهغـې پـه وړانـدې دامریکـــا اونـــاټو دفـــاعي تجهیزات هیڅ هم ندي اونـه هغه تجهیـزات د امریکایـانو او دهغوی دګوډاګیـانو څخـه مـرګ بنـدولی شي بیشـکه دبشري تـاریخ ترټولـو مجهـز اوقـــوي ځـــواک (امریکـــا)ده خونن تش لاس طالب هغه په ګونډو کړي او لګیاده هغه نه دخپـل نجـات لپاره ډاډ غواړي.

راځو دیته چې دشوراب برید خورا هیښوونکی او کامیـاب بریـد و، طالبانو وښوده چې د دوی بریدونه په دومره مهارت او ځیرکتیا سره پلان کېـږي چـې ترپایـه دامریکـا وتلـې اسـتخباراتي اداري او دکابـل رژیـم جاسوسان یې کشفولی نه شي.

شوراب یوه دهغو پوځي اډو څخه ده چې پکې امریکـایې او کـورني ځواکونه میشت دي، نو دنورو څخـه یـې امنیتـي او دفـاعي کمربندونـه قوي اوډیر دي داچـې بیـا هـم طالبـانو وکـړای شـول چـې د دوی دټولـو کمبربندونو ورتیرشي اوهلتـه ورسره ۴۶ساعته جګـړه وکـړي او نیـږدې ۴۰سلنه تاسیسات او تجهیزات یې ورتـه تخریـب او ونـړوي جوتـوي چـې طالبان په پوځي چارو کې له هغو اټلکونو څخه زیات فعال اوپیـاوړي دي چې عموماًپوځي کارپوهان یې دوی په اړه تجزیه اوڅیړي

لنډه داچې دشوراب په پوځي آډې بانـدې دطالبـانو لخـوا داتـازه برید بیخي هیښونکی او کامیاب و داوسني رژیم هغه ټـولې دعـوې یـې دروغ کړي چې ویلي دوی اوس ددفاعي حصارنه وتلي په تعـرضي حالـت کې قرار لري او طالبان اوس دفاعي حالت بیول شوي دشـوراب دننـه ۴۰ سلنه پوځي تاسیات اوتجهیزات تخریبول ددې خبرې دلیل اوثبوت دی چې د امریکا اوکابل رژیم دواړو استخباراتي پوښښونه له منځـه تللي او نورنه شي کولی چې دشـوراب پـه ځیـر حساسـو پـوځي مرکزونـو بانـدې دبریدونو په اړه دوړاندې نه کشـفي معلومـات ترلاسـه کـړي ، دشـوراب برید په ترڅ کې داډې دننه پریوتې ملبې لاندې داسـد خالـد دسروهلـو اوسنګر نیولو شعار دفن شو چې بیا به یې ځوک وانخلي، په ټولـه کـې پـه شوراب اډې برید امریکایانوته هم پیغـام پریښـود چـې هغـوی دي دلتـه تراوږدې مودې خوبونه لیدل نه ویني او واقعیتونوته په غاړه ایښـودو دي ژرترژره خپل یرغلګر عسکر ور وغواړي کنه دشوراب نه په څوځلـه نـورو قوي عملیاتو اوبریدونو سره به مخ شي.

امریکایان باید په افغانستان کې شته واقعیتونه په پام کې ونیسي

■ احمد مختار

بالاخره امریکایان د مذاکراتی بهیر په پنځمه داسې غونډې کې له طالبانو سره یو ځای دی چې هغوی شل کاله وړاندې د دغسې مفاهمتي غونډې وړاندیز کړی او هغه یې د ستونزې د حل یواځینی وسیله بلله.

اوس هم چې امریکایانو د تفاهم او مذاکرې مؤثریت درک کړی دا یو ښه فرصت دی چې باید تري مناسبه استفاده وشي.

ځکه تفاهم د انسانیت معنی او د بشریت لپاره د هغوي د ټولو فکري ، او سیاسي شخړو د هواري ضامن دی. خو تفاهم هغه وخت ښه مؤثریت لرلی شي چې په هغه کې واقعیتونه په پام کې و نیول شي او د هغو په منلو سره ښکیل لوري پر خپلو اشتباهاتو اعتراف وکړي .دا یو واقعیت دی چې افغانان د بشري ټولنې د یوه ځوریدلي قشر په توګه سوله خوښې او مینه ناک خلګ دي.

که د افغانانو تاریخ ته وکتل شي نو دوی پر چا یرغل نه دی کړی ، بلکې نور دي چې د دوي پر هیواد یې یرغلونه کړی دی.

خو افغانان لکه څومره چې مینه ناک او سوله خوښې دي هغومره له خپل دین ، خاوري او ولس څخه د مذهبي او اخلاقي دفاع له روحیې څخه هم سر شار دي.

د چنګیز، انګریز، پخواني شوروي اتحاد او اوسني امریکایي اشغال په مقابل کې د افغان ولس تاریخي مقاومت د دې ادعا ژوندی شاهد دی.

دا یو واقعیت دی چې په نړیواله سیاسي، پوځي او اقتصادي معادله کې د امریکا یوقطبي والی د افغانانو د جهاد محصول دی.

ځکه همدا افغاني جهاد و چې کمونیزم ته یې ماتي ورکړه او د امریکا په شمول یې ټوله نړۍ د هغه له شره وژغورله.

هـو دا واقعيـت هـم بايـد ومنـل شي چـې پـه افغانستان کې هم مشکلات وو، اما هغه داسې مشکلات وو چې تر تصادم يې پر تفاهم ښه حل کيدای شوای.

خو لـه بـده مرغـه چـې امريکايـانو د تفـاهم پـر ځای تصادم تـه تـرجيح ورکـړه او پـوره ۱۸ کالـه يـې د افغانسـتان پـه اشـغال کـې ټـول پـوځي ، سـياسي او تخنيکي زور وازمايه .

خو نن يې بالآخره هغه څه درک کړل چـې طالبـانو لـه دې ټولو بربادیو وړاندې ورته وړاندیز کړي و.

اوس هـم امريکايـانو تـه دا يـو ښـه فرصـت چـې طالبـان (اسـلامي امـارت) د تفـاهم پلـوی دی پـه دې صورت چې امريکايان دلته موجود واقعيتونه ومنی.

دلتـه موجـود واقعيتونـه دا دي چـې افغانـان پـه هيڅ صورت اشغال او د اشغال مستلزمات نه مني.

افغانـان مسـلمانان دي او لـه اسـلامي حاکميـت پرته ورباندې بل حاکميت د منلو وړ نه دی.

امريکايانو چې د خپل اشغال لپـاره دلتـه کـومې پلمې لټولې وي هغه يې تجربه کړې چې هـيڅ نتيجـه نه ولرله ، اوس بايد د دغې ستونزې د واقعي حل لپـاره د اسلامي امارت حل لاره د يوه واقعيت په توګه ومني.

که اوس هـم پـه مـذاکراتي بهيـر کـې د مشـکل د هواري لپاره پر خپلو غوښتنو ټينګار کوي دا به مو بيا د حل په ځای بل داسې مشکل تـه بيـايي چـې اتلس کاله نور به د هغه له تاوانونو نه کړيږو .

پرافغانسـتان امريکـايي يرغـل يـو نـاروا او وحشـيانه عمـل و چـې پـه هـيڅ سـياسي، اداري، او امنيتي برخه کې يې هـيڅ مثبتـه نتيجـه ور نـه کـړه ؛ بلکې په نړيواله کچه يې داسې ناورينونه وزيږول چې پر افغانستان سربيره يې ټوله نړۍ له بې ثبـاتي سره مـخ کړه.

اوس کـه امريکايـان د اشـغال د خـاتمې لپـاره د اسلامي امارت طرحه او وړانديز ومني ، په نتيجه کـې به يې ان شاء الله چې افغانستان ، سـيمه او ټولـه نـړۍ باثباته شي.

امريکايـان بايـد دا وقعيـت درک کـړي چـې اسلامي امارت د افغان مسـلمان ولـس د ارادي د ممثـل په توګه د امريکاپه شمول هيچا ته د شر اراده نه لري.

د امريکا په شمول له ګاونډيانو ، سـيمې او ټـولې نړۍ سره د لاضرر او لاضرار (ضرر نه رسول او ضرر نه قبلـول) شرعـي قاعـدې پـر اسـاس د تعامـل او متقابـل احترام غوښتونکی دی.

سره لـه دې چـې امريکايـانو پـه خپـل ظالمانـه اشغال سره افغانان سـخته ډيـر ځـورولی او د بګـرام او ګونتنامو په څير وحشـيانه زنـدانوکې يـې ډيـر کـړولي دي.

خو که اوس هم امريکايان خپل همـدا ظالمانـه اشـغال په واقعي ډول پايته ورسوي ، افغانـان خپلـې ارادې تـه پريږدي ، او خپل هغه لګښتونه چـې پـه پـوځي برخـه کې يې د افغانستان پر ورانولو لګول د سوله ييـزو غيـر پوځي مرستو په چوکاټ کې د افغانستان پر بيـا رغولـو ولګوي افغانان به تري مننه کوي.

هيله ده چې امريکايان دا ټول د يوه واقعيت پـه توګه ومني او د اشغال خاتمې او سولې ټينګښـت تـه د ژمنتوب په لاره کې عملي او جدي ګامونه واخلی.

حسن زوی

دسعودي دولت یو بل دردوونکی اقدام

دسعودي ولي عهد په امریکا کې دسعودي دسفارت لپاره دیوې مېرمنې په تقرر نړۍ حیرانه او دنړۍ ژمن مسلمانان یې ودردول.

دسعودي په ۸۷ کلن تاریخ کې دبندر بن سلطان بن عبدالعزیز لور شهزادګۍ ریما لومړۍ سعودۍ مېرمن ده چې په کوم هېواد کې دسفارت لپاره ګومارل کېږي او دا اول ځل دی چې دخپل پلار پاچا سلمان پرځای دفاع وزیر او ولي عهد محمد بن سلمان شاهي پرېکړه دخپل دفتر نه اعلانوي .

محمدبن سلمان خپل ورور خالدبن سلمان چې په امریکا کې دسعودي عربستان سفیر و دسفارت نه یې ددفاع وزارت معینیت ته راوست او پرځای یې ریما بنت بندربن سلطان په واشنګټن کې دسعودي سفیره مقرره کړه.

دسعودي ددولتي اژانس S.P.A له لورې په خپور شوي راپور کې راغلي دي چې دپاچا سلمان دبهرني سفر پرمهال محمدبن سلمان په یو وخت کې ۳ پرېکړې وکړې،خالدبن بن سلمان یې له سفارت نه معزول او ددفاع وزارت لپاره یې دمعین په توګه وټاکلو او ریما یې په امریکا کې دسعودي عربستان دسفیرې په توګه وټاکله.

دریما پلار شهزاده بندر په ۱۹۸۳ م کال کې دشاه فهد له لورې په امریکا کې دسفیر په توګه مقرر شو چې تر ۲۰۰۵ م کال پورې همدلته سفیر و؛هغه ۲۲ کاله امریکا کې سفارت وکړ چې دا دسعودي په تاریخ کې دیو سفیر دسفارت ترټولو اوږده موده ده؛دده په سفارت کې دامریکا پنځو ولسمشرانو خپله د ولسمشرۍ موده پوره کړه او ولاړل او دباندنیو چارو ۱۰ وزیران دې وزارت ته راغلي او تر یې بدل شوي وو.

د ۱۱ ستمبر دېپښې نه پس دسعودي عربستان او امریکا ترمنځ اړیکې ترینګلې شوی وې ځکه چې دامریکا ددعوا له مخې په حمله کوونکو کې ۱۶ تنان دسعودي عربستان اتباع وو.

دهمدې ترینګلوروابطوپه دوام کې داوباما دواکمنۍ پرمهال دامریکا دولتي ادارو دجاستا په

نوم دسعودي پرضد يوه قانوني مسوده تياره کړې وه چې د ۲۰۱٦ م کال په اکتوبر کې د امريکا د سنا مجلس دا تصويب کړه .

لکه دمخه موچې وويل د ۱۱ ستمبر په پښښه کې ککړو تنانو کې ۱٦ تنان دسعودي اتباع وو نو ددې قانون له مخې پدې پښښې کې دوژل شويو تنانو ورثانو ته ددې حق ورکړل شوی چې دامريکا محاکمو کې دسعودي ددولت پرضد عارض شي او دسعودي دولت نه دخپل مړي دتاوان غوښتنه وکړي.

پدې قانوني مسوده کې دسعودي مدرسې،خيريه اداري او اهل خير دمجاهدينو سره په مرستو کولو تورن شوي دي او دبندولو سپارښتنه يې شوی وه .

دامريکا په سناکې د ۲۰۱٦ م کال په مۍ مياشت کې جاسټا تصويب او دمشرانو جرګې ته واستول شو؛دستمبر په ۹ مې نښټې دمشرانو جرګې تصويب کړ او ولسمشر ته يې دمنظوری لپاره ولېږلو ؛ ولسمشر بياهغه د ستمبر په ۲۴ مې نښټې ويټو کړ خو د مشرانو جرګې په اتفاق د ولسمشر ويټو لغوه کړه او جاسټا دامريکا دقانون برخه او دسعودي په سر دتل لپاره زوړنده توره وګرځېده.

دسعودي دباندیو چارو وزير عادل الجبير هغه مهال دامريکا ددې پرېکړې په مقابل کې دعکس العمل ښکاره کولو په لړ کې ويلي و چې دامريکا نه به خپل ۷۰ ملياردە ډالر راوباسي.

سعودي فکر کاوه چې پدې کار دامريکا اقتصاد ته ډېر تاوان رسېږي نو امريکا به داقانون لغوه کړي خو امريکا دسعودي پدې ګوابنس غوږ ونه ګرولو او دا رامنځته شوی نوی قانون يې همداسې پرېښود.

ويل کېږي چې دبارک اوباما داقتدار پرمهال ۱٦ ايراني الاصله امريکايې مېرمنو په سپينې مانۍ کې پرمهمو پوستونو باندې کار کاوه نو ځکه دبارک اوباما دسعودي په پرتله ايران ته ميلان زيات و او همدا و چې دايران داتومي پروګرام په اړه ټرون هم رامنځته شو .

خو چې د ۲۰۱۷ م کال په جنوری کې ټرمپ واک ته ورسېد نو خبره بيخې برعکس شوه دايران سره درامنځته شوي ټرون دماتولو خبرې پيل شوې او دسعودي په اړه پاليسي ـ نرمه شوه؛ سعودي دا دځان لپاره ښه موکه وګڼله او بدبختانه چې امريکا ورنه څه وغوښتل په سرسترګو يې ومنل.

امريکا چې محمد بنه مطالعه کړی اوپرې پوهېده چې بنه لاسپوڅی يې ثابتېدای شي نوهمدی يې دسعودي دمشری لپاره رامخې ته کړاو د شاهي کورنۍ دنورو حليفانو په مقابل کې يې ترشا ودرېده نو دمحمد بن سلمان نه يې ددې حمايت په مقابل کې په سعودي کې دګڼو بدلونونو راوستلوغوښتنه هم وکړه .

دا چې محمدبن سلمان دخپل پلار باچا سلمان نه ټول واک اختيار اخستی دی نوټولې پرېکړې پخپله کوي او دامريکااونورلويديځ دغوښتنې سره سم يې په هېواد کې دټولنيزو اصلاحاتو درامنځته کولو په نوم دسعودي مذهبي ټولنه ددينې قيودونه دازادولو او په

تمامو معنو لبرال کولو پرلور روانه کړيده چې دې کار نه يواځې دسعودي بلکې دټولې نړۍ مسلمانان اوس سخت خفه کړي او ددې هدف لپاره شويو اوکېدونکواقداماتو ډېر زيات اندېښمن کړيدي .

سره له دې چې سعودي کې دنظام ؛ حاکمانو اودحاکمانودکړنو پرضد خوله ښېرته کول اوڅه ويل خپل ځان دلوي خطر سره دمخامخ کولو په معنی وي نو ځوک ددولت په ناوړو کړنو او اقداماتو ښکاره انتقادونه نه کوي خود محمد ددې اقداماتو په اړه دسعودي ډېرو اوسېدونکو هم داحتياط نه په ډک انداز خپل تشويش ښکاره کړيدی چې ګڼ انتقاد کونکي علماء کرام زندانونوته هم لېږل شويدي

دلويديځ په لمسون لا ډېر دمخه دسعودي مېرمنو ددولت نه د ډېروړی داجازې اخستلو مسلسله غوښتنه کوله خودټولنيزو اسلامي احکامو په اړه چې تر ډېره حده نظام محتاط و اودبې سترۍ اوبې حيايۍ دلارو مخنيوی کېدلونو ددولت له لورې مېرمنو ته دداسې ازادۍ اجازه نه ورکول کېدله ؛خو محمد بن سلمان چې دسعودي مېرمنوته دلويديځ په ځېر دهرډول ازادۍ ورکولوهوډ کړيدی نودهمدې ازادۍ ورکولوپه لړکې يې ورته په سرکې دډېرۍ کولو اجازه ورکړه ؛ ترڅنګ يې په انتخاباتو کې درايو اچونې او په انتخاباتوکې دځان کانديدولو اجازه هم ورکړه ؛ مېرمنو ته په دولتي او شخصي کار ځايونو کې فعاله ونډه ورکړل شوه .

اوچې يوځل دآزادۍ دروازه خلاصه شوه نو لوبغالو،پارکونو ؛ نندارتونونو اوسينماګانو ته دتللو اودپردو سړو سره يوځای دکښاستلو اجازه هم دسعودي مېرمنو ترلاسه کړ ه .

او اوس يې بهرنو هېوادونو ته د سفيرانو په توګه لېږل پيل شول چې دادهمدې اقداماتو پيل شوې خورا خطرناکه او دردونکې لړۍ ده.

خبره يواځې مېرمنو ته په آزادۍ ورکولو وندرېده بلکې امريکا په همدې وخت کې خپل يو دولتي هيئت تشکيل او دسعودي دخير يه مؤسسو او اشخاصو په اړه يې ورته دځېرنو او معلوماتو راجمع کولو دنده ورکړه؛دامريکا دې هيئت دسعودي د خيريه ادارو او سونو اشخاصو په اړه دمعلوماتو راټولولو نه پس سپارښتنه کړې وه چې خيريه سترې مؤسسې دې بندې شي اوديو دشمېر سترو شرکتونو او اشخاصو په هېواد کې دننه په زکاتونو او خيراتونو دې هم بندیز شي .

ځکه چې ددوئ دخير يه مرستو نه سخت دريځو ته ګټې رسېږي نو بايد بنديز پرې ولګول شي او دسعودي زکات او نورې خيراتي روپۍ بايد دامريکا پوهنتونونو،نورو تعليمي ادارو او سائنسي- تحقيقاتي مرکزونو ته وقف شي.

محمدبن سلمان پدې اړه هم دامريکا غوښتنې ته لبيک وويلو ؛ څه موده وړاندې يې چې داحتساب اداره جوړه کړه نو هدف يې دهمدې خيريه ادارو او افرادو پرضد اقدام و خو پلمه يې داجوړه کړه چې دا اداره به د بډايو خلکو او دولتي لوړ پوړو چارواکو په اړه ځېرنې کوي.

نوپه همدې لړ کې دتېر یو نیم کال راهیسې دسعودي د ۷۰ خیریه مؤسسو په فعالیت ددولت له لورې بندیز لګېدلی دی ؛ په بهر نړۍ کې دجوماتونو له کفالت نه لاس اخستل شوی او دسعودي بډای په لسګونو تنان دپوښتنو او تحقیقاتو په نوم نیول شویدي .

تېر کال چې دمحمد بن سلمان په حکم دشهزاده ولید بن طلال په شمول ګڼ شمېر شهزادګان او لوي سوداګر ونیول شول نو اوس معلومه شوه چې تر شا یې دامریکا همدافشار و ځکه چې دوئ نېږدې ټول داسې خلک وو چې په خیریه کارونو کې به یې له دې وړاندې لویه برخه وه.

پدې لړ کې اوس مهال ولې عهد دسعودي په اهل خیر کې ترټولو لوي او مشهور شخص سلیمان الراجحي ته لاس وراورد کړیدی.

دسعودي داحتساب پو نوم جوړې شوې اداري چې دولیدبن طلال په شمول دشهزادګانو نه په میلیاردونو ریال واخستل دسلیمان الراجحي نه یې هم د ۱۰ ملیارده ریال غوښتنه کړیده او د نه ورکولو په صورت کې ورته زندان ته دځان چمتو ساتلو ګوابنې کړیدی.

ضعیف العمر سلیمان الراجحي ته دا ګوابنې او ورنه دا غوښتنه په داسې حال کې شوې چې له دې وړاندې دهغه ځوی؛دالراجحي شرکت منیجر ، په مکې مکرمې کې دهغه له لورې دجوړ شوي ستر مسجد امام هم دولت نیولی او دمنیجر او دهغه دځوی نه داحتساب په اداري کې دالراجحي شرکت دعوایدو په اړه تحقیقات ترسره شوي و او دجومات دامام نه دسلیمان الراجحي دپټو صدقاتو په اړه معلومات ترلاسه شوي وو . دیادولو وړ ده چې شهزادګی ریما په ۱۹۷۵ م کال کې په ریاض کې زېږېدلې ده پلار یې بندربن سلطان بن عبدالعزیز دی او مور یې دشاه فیصل بن عبدالعزیز لور هیفاده نو ځکه د شاهي کورنۍ ترټولو زیاته مؤثره مېرمن ګڼل کېږي .

دامریکا فوربس نومي مجلې هغه په ۲۰۰۱۴ م کال کې دعربي نړۍ ترټولو مؤثره اونامتو مېرمن ګڼلې وه.

۲ کلونه یې دمحمدبن سلمان سره دځانګړې مشاورې په صفت دنده ترسره کړیده؛له دې وړاندې یې نورې مهمې دولتي دندې هم لرلې دي.

دسعودي په کاروباري بډایو مېرمنو کې یې نوم ترټولو وړاندې دی؛ریما دجواهرو،عطرونو او پوستکودمشهور شرکت،،ریمیه،، مالکه هم ده؛او د ،،الف خیر،،په نوم هغه اداره هم دهمدې ده کومه چې دنادارو خلکو سره وړیا مرستې کوي.

دامریکا فیدرالې اداري ایف بي آی په ۲۰۰۲ م کې هڅه کړې وه چې دشهزادګۍ دمور هیفا او د ۱۱ ستمبر دپېښې دعاملینو ترمنځ تړاو ثابت کړي اوویلي وو چې هیفا یوې داسې سعودۍ مېرمن ته ۳۵۰۰ ډالر دخپل بانکي حساب نه ورمنتقل کړي وو چې دهغې مېرمنې دپېښې دعاملینو سره تلیفوني تماس و خو بیا دا تور پخپله امریکایې سفارت رد کړ او روښانه یې کړه چې دا خیراتي پیسې هیفا یوې داسې سعودي

مېرمني ته ورمنتقل کړې وې چې له روابطو يې بيخي نه وه خبره.

ددې مهمې دندې لپاره دريما دانتخاب لامل دسعودي عربستان رسنۍ دا وړاندې کوي چې ريما په امريکا کې راستره شوې او په جارج واشنګټن پوهنتون کې يې لوړې زده کړې ترسره کړيدي او دخپل پلار دسفارت په موده کې يې ډېر څه لېدلي او زده کړيدي نو دسعودي او امريکا ترمنځ دروابطو په ښه ساتلو کې به ښه رول ولوبوي.

نو ځکه دبندربن سلطان دګوښه کېدونه پوره ۱۴ کاله پس يې لور شهزادګۍ ريما اوس په همدې امريکا کې دسعودي عربستان دسفيرې په توګه مقرره شوه.

خو دچارو پوهان وايې چې دريما پلار بندربن سلطان په امريکا کې ۲۲ کلونه سفير پاتې شويدی چې دا په امريکا کې دسعودي عربستان دکوم سفير دسفارت ترټولو اوږده زمانه ده؛پدې زمانه کې بندربن سلطان دامريکايې چارواکو او جاسوسو شبکو سره خپل روابط ډېر قوي کړي وو ؛ شنونکي وايې چې په ټولې شاهي کورنۍ کې له ده پورته دامريکا بل غټ لاسپوڅی نه و تردې چې په شاهي کورنۍ کې هغه خپلو مخالفينو بندر بش ګانه.

بندر په ۲۰۱۲ م کې دسعودي عربستان داستخباراتو مشر شو چې تر ۲۰۱۴ م پورې ددې اداري مشرو او پدې مودې کې يې دامريکا داستخباراتي ادارو سره روابط نور هم قوي شول.

نو ريما ته له دغه شاليده لېدل پکار دي؛په امريکا کې يې دسفيرې په حيث تقرري له دې املې نده چې داسې ډېر لوړ استعداد لري چې ددومره لوړ استعداد لرونکی بل سړی نشته او يا داسې کامیابه ديپلو ماته ده چې بل داسې کامياب ديپلومات نشته بلکې اصل لامل يې چې دپلار له لارې دامريکا استخباراتو سره روابط دي او دامريکا په غوښتنه دلته سفيره مقرره شوې ترڅو له يوي خوا دمحمدبن سلمان له لورې دلبراليزم پرلور روان شوی سعودي عربستان پدې هکله لاپسې تېز او دنورو اسلامي هېوادونو لپاره نمونه وګرځي او له بلې خوا د امريکا دجاسوسو شبکو سره تړاو لرونکو خلکو نه د سفير په جامه ټول هغه کارونه واخلي کوم ته چې اړتيا محسوسوي.

نو دا د ډېر افسوس او درد ځای دی چې دسعودي عربستان ولي عهد محمدبن سلمان نه دخپل هېواد دژمنو مسلمانانو خفګان ته ګوري ؛ نه دعالم اسلام زړه بداوي ته ګوري او نه هم خپلو عليا ملي منافعو ته ګوري بلکې يواځې دامريکا خوشالول غواړي او پدې لار کې دهيڅ شي پروا نه ساتي.

خو محمدبن سلمان بايد پدې پوه شي چې دامريکا مثال دشيطان نه کم ندی له خپلو لاسپوڅو کارونه اخلي شرموي يې هم او په نيمې لار کې يې هم پرېږدي.

مصر کې
د اعدامونو نوې لړۍ
او د غرب منافقه څېره

په مصر کې چې د ۲۰۱۳ م کال دجون په ۳ مې نېټې د فوځي کودتا په نتیجه کې داسلام خوښي دوکتور محمد مرسي اداره ړنګه او پرځای یې فوځي دیکتاتور السیسي پرواک قابض شو نو له هماغې ورځې نه داسلام خوښو ورځ بده ده او دظالم دولت له لورې په یو اوبل نوم دسخت عتاب ښکار دي.

جنرال السیسي دمصر قضا د ژمنو مسلمانو مصري ځوانانو پرضد د آلې په توګه کاروي او دمصر قاضیان اوس د السیسي اجرتي قاتلان ګرځېدلې دي چې ددولت په تفتیشي مرکزونو کې دسختو سکنجو په نتیجې کې دجبري اعترافونو نه پس په روانې یوې میاشت کې ۱۸ ځوانان ددار په تختې راځړول ددې ژوندې ثبوت دی.

دفروري په ۲۰ مې نېټې دقاهرې زندان کې ۹ ځوانان ددار په تختې راوزړول شول؛پردوئ دا تور و چې دمصر دپخواني لوي څارندوال په قتل کې یې لاس درلود چې دمصر محاکمو دې ۹واړو ته په همدې تور دمرګ سزا اورولې وه او اوس دا ده تطبیق شوه ؛دمصر پخواني لوی څارندوال هشام برکات د ۲۰۱۵ م کال دجون په ۲۹ مې نېټې په قاهره کې په یوې بمې چاودنې کې وژل شوی و چې دقتل په تور یې په لسګونه مصري ځوانان نیول شویدي چې ترې ۹ اعدام شول .

دروانې فروري په ۲۰ مې نېټې د ۹ مصري ځوانانو

اعدامېدل پـدې میاشـت کـې داعدامونو د پیـل شـوې لړۍ ۳ مـه پېښـه وه؛ لـه دې وړانـدې دهمدې فروري په ۱۳ مې نېټې دقاهرې په همدې زندان کې ٦ مسلمان ځوانـان اعـدام شـول چـې داخـوان المسلمون دګونـد سره یـې تـړاو درلـود او دمصر- محـاکمو لـه لـورې پـه اعـدام محکـوم شـوي وو؛پـردې ٦ ځوانـانو پـه هغـه پېښـې کـې دلاس درلودلـو تـور و چـې پـه مصرـې رسـنیو کـې دکرداسـه پېښې په نوم یادېږي.

په کرداسـه نـومې سـیمې کې د۲۰۱۳ م کال دسـتمبر پـه ۱۹ مـې نېټـې امنیتـي مرکـز تـه وسله وال ورننوتي وو چـې دډزو په نتیجه کـې یـې ۴ لـوړ پـوري فـوځي افسرـان وژل شـوي وو دمصرـ دولـت ددې پېښـې پـړه پراخوان المسلمون ورواچولـه او په دې تور نیـول شـویو ٦ تنـانو تـه دوسـیه جـوړه شـوه چـې محاکمو په اعدام محکوم کړل او پرې ددې میاشتې په ۱۳ مې نېټې دمحاکمو دا دظلـم نـه ډک حکم تطبیق شو.

دهمدې روانې میاشتې په ۷ مې نېټې هم دقـاهرې زنـدان کـې ۳ ځوانـان اعـدام شـوي وو؛پردوئ دقـاهرې د اسـتیناف دمحکمې د مشاور دځوي دقتـل په پېښه کې دلاس لرلو تور و.

د بشرـ دحقوقـو نړیـوالې اداړې هیومن رایټس ویـلي دي چـې پـه مصرـ کـې اوسـني اعدامونـه سراسر بـې انصـافي او ظلم دی؛پـدې کـې دانصـاف او عدل غوښتنو ته هیڅ پاملرنه نه ده شوې .

دا اداره وایې چې دمصري دولـت لـه لـورې دا ځوانـان دسختو زیـاتو فزیکـي او روانـي سکنجو سره مخامخ شویدي او پرجـرم دجـبري اعترافونـو پـه نتیجه کې محاکمو دوئ دمـرګ په سزا محکوم کړیـدي چـې دا ډېره ستره بې عدالتي ده.

په مصرکې دظالمو حاکمانو لـه لـورې داسـلام خوښـو داعدامونو لړۍ ډېره زړه ده خـو د ۲۰۱۳م دجـون میاشـتې نـه پس چې دیوې فوځي کودتا پـه نتیجه کې د دوکتورمرسي اداره ړنګه او جنرال السیسي پـرواک قابض شو نو لـه هغـه راهیسـې چې څومره اعدامونـه شـوي پـه بل یو دولت کې یې هـم سـاری نه لیدل کېږي.

دجـنرال السیسيـ پـه واکمنـۍ کـې ۲۰۱۳ مسـلمانان دمرګ په سزا محکـوم شـویدي چـې ۴۴ یـې اعـدام شـویدي او پاتې نـور یـې هـم دخپـل نوبـت انتظار کوي.

یـواځې دلـوي څارنـدوال دوژل کېـدو دجـرم پـه تـور دالسیسيـ ددولـت محـاکمو لـه لـورې ٦۷ تنـان مجـرم ګڼـل شویدي چې پکې ۹ تنان اعدام شـویدي او دپـاتې نـورو داعدامېدو هم قـوي امکـان دی .

اوسـنو بـې رحمانـه مسلسـلو اعـدامونو د السیـسي دادارې

پرضد دخلکو قهر او غصه راپارولې ده او ورسره یوځای په مصر کې دبدامنۍ پېښې هم زیاتې شویدي.

دجنورۍ په ۱۹ مې نېټې دقاهرې په منځ کې دجامعة الازهر سره نېردې په یو فدایي برید کې د ۳ پولیسو په شمول ۱۵ تنانو خپل ژوند له لاسه ورکړ ؛ له دې وړاندې دسیناء په عریش ښار کې پر یو فوځي مرکز برید تر سره شو چې دیو شمېر فوځي افسرانو په ګډون پکې ۱۵ فوځیانو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

دیادولو وړ ده چې دمصر- پارلمان په قانون کې یو ترمیم تصویب کړی چې له مخې به یې السیسي- دژوند ترپایه د هېواد دولسمشر- په صفت په واک کې دپاتې کېدو قانوني حق ولري.

دمصر- دچارو پوهانو دپارلمان دا عمل خورا خطرناک ګڼلی او وایې چې ددولت پدې متعصبانه اقدام به په ولس کې ددولت پرضد کرکه نوره هم زیاته ؛ دبدامنۍ یوه نوې څپه به رامنځته شي او داسلام خوښو په مرکز سیناء کې خو به حالات لازیات خراب شي.

ویل کېږي چې دمصر- په محاکمو کې ۳ قاضیان زیات یادېږي کومو چې دالسیسي- دخوشالولولپاره دمسلمانو ځوانانو په اعدامونو ترټولو زیاتې پرېکړې کړیدي

حسن فرید؛محمد ناجي شحاته او شعبان الشامي؛ دا ۳ واړه دسترې محکمې قاضیان دمصر- په مسلمان ولس کې دجلاد،سفاک او قضات الاعدام په بدو نومونو یادېږي.

په دوئ کې یواځې محمد ناجي شحاته ۲٦۳ مسلمانان د اعدام په حکم محکوم کړیدي.

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې دمحمد مرسي ددولت ډنګولو نه پس دالسیسي- پرضد دمصر- مسلمانان درابعه العدویه میدان ته دمظاهرو په اراده راوتلي وو نو فوځ یې پرضد دوحشت نه ډک عملیات وکړل چې پکې په زرونو قتل او په لسګونو زره زندانونو ته بوتلل شول.

دژوندي نیول شویو مسلمانانو دوسې د جلاد قاضي محمد ناجي شحاته سره دي چې ددولت په پلوۍ کې او دالسیسي دخوشالولو لپاره یې دوئ ټول په سختو سزاګانو محکوم کړیدي؛

دډېرې زیاتې حیرانتیا خبره دا ده چې ددولت په پلوۍ او دالسیسي- دخوشالولو لپاره یې حدودو نه دومره تجاوز کړی چې ددولت سره دمخالفت په تور دنیول شویو تنانو نه یې یواځې په ۴۷ ساعتونو کې ۱۸۳ تنان په اعدام او ۲۳۰ تنان یې په دائمي حبس محکوم کړیدي چې دنړۍ په تاریخ کې هیڅ یو قاضي په دومره لږ وخت کې دچا داعدام

او دائمي حبس داسې پربکړه نده کړې.

ددې ترځنګ چې ناجي شحاته ګڼ بې ګناه مسلمانان په اعدام او دائمي حبس محکوم کړيدي ۱۸ هغه فوځيانو ته يې براءت ورکړی کومو چې درابعه عدويه په ميدان کې ګڼ شمېر لاريون کونکي په مخامخ ډزو ويشتلي وو.

ددې سفاکو قاضيانو له جملې نه شعبان شامي هم دی چې دپخواني منتخب ولسمشر- محمد مرسي په ګډون يې ۱۶۰ مسلمانان دمرګ په سزا محکوم کړيدي؛ همده داسلامي نړۍ نامتو عالم يوسف القرضاوي هم دمرګ په سزا محکوم کړی خو دامريکا او اسرائيلو لاسپوڅی پخوانی ولسمشر- حسني مبارک يې دټولو جرمونو نه بري کړيدی.

او پدې ۳ قاضيانو کې دريم حسن فريد نومېږي چې تراوسه يې ددولت مخالفو زنداني شويو مسلمانانو کې ۱۴۷ دمرګ په سزا محکوم کړيدي.

دچارو پوهان باوري ډي چې دخپلو سياسي مخالفينو دوېرولو لپاره السيسي- دمصر لوي قاضيان دآلې په توګه کاروي چې متأسفانه دامريکا په شمول هغه لويديځه نړۍ چې ځان دبشر- د حقوقو اتله بولي دمصر- ددولت پدې روان وحشت باندې چوپه خوله ده ؛ دمصري ديکتاتور پرضد هيڅ مؤثر اقدام نه کېږي ؛ نه ورباندې کوم بنديز لګول کېږي اونه يې پر ضد کوم آواز پورته کېږي اوهيڅ داسې څوک نه وايې چې ګيني دځمکې پر مخ چرته ظلم او وحشت روان دی بلکې دامريکا په شمول ټوله غربي نړۍ دهمدې ظالم تر شا ولاړه ده او ظلمونه يې تائيدوي .

دا دلويديځ انصاف اوبشر- دوستي ده چې دآسيه مسيح په نوم يوه مسيحی مېرمن که داسلام دستر پېغمبر بې ادبي کوي او دسونو مليونه مسلمانانو زړونو ته سخت درد رسوي نو دداسې مېرمن اعدام خو غرب (نعوذ بالله من ذلک) ظلم ګڼي او ورنه ددفاع او داعدام نه يې دساتلو لپاره ټول ډګرته راوځي خو چې يوائې ديو ديکتاتور سره څوک مخالفت نښکاره کوي او همدا مخالفت دومره لوی جرم ګڼل کېږي چې پرې باندې په لسګونو يا سونوخلک اعدامېږي نودلته بيا نه دغرب بشر- دوستي وي او نه ددې دومره ستر وحشت اوظلم په مقابل کې څه غبرګون ؟!

بس داغرب دی اوهمدا يې بشر دوستي ده .

دا اسلام غزوات او سرايا

دمکې مکرمې عظيم الشانه سوبه

□ په تير پسې
□ ابوظهير

دحاطب دليک مضمون :

حاطب بن بلتعه دليک مضمون هم په دې دلالت کوي چېدهغه منشاء عياذاً با الله نفاق نه و، هغه ليک داو:

امابعد يا معشر قريش فَانَّ رَسولَ الله صَلَّىٰاللّٰهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ جاءكُم بِجيشٍ كَالليل يَسير كَالسّيل فَوَ الله لَوجاء كُم وحده لَنَصرَهُ الله وَانجَزَلَهُ وعَدَه فَانظروا لِاَنفُسكم والسلام

ترجمه:اې دقرشو!رسول الله صَلَّىٰاللّٰهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ دشپې په څير د يوخطرناک لښکرسره يوځای پر تاسو درتلونکی دی، کوم چې دسيلاب په څير روان وي اوپه خدای سوګندکه رسول الله صَلَّىٰاللّٰهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ دلښکر پرته تنها هم درشي نو الله تعالی به ضرور بری ورکوي او دفتح و نصرت کومه وعده چې الله جَلَّجَلَالُهُ درسول الله صَلَّىٰاللّٰهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ سره کړې هغه به ضرور پوره کوي يعنې په تاسو به هغه ته کاميابې ورکوي يعنې درسول الله صَلَّىٰاللّٰهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ بريا په لښکر پورې موقوف نده، نو پس تاسو پخپل انجام سوچ وکړئ والسلام

داخط يحيى بن سلام پخپل تفسيرکې راوړی کوم چې علامه قسطلاني دبخاري په شرح کتاب الجهادباب حکم الجاسوس کې نقل کړی او دفتح الباري باب غزوه الفتح کې هم راوړل شوی اوپه البدايه والنهايه کې هم شته (البدايه والنهايه ۴توک ۲۸۴مخ)

پورته ليک کې دحاطب بن بلتعه دهغه عذرښکاره تصديق اوتائيد کوي کوم چې وړاندې تيرشو

فَكتبتُ كتاباً لايَضُرُ الله ورَسولهُ

ترجمه: ما يوداسې ليک ليکلی دی کوم چې الله او دهغه رسول لپاره مضرندی

دواقدي په روايت کې دي چې دا ليک سهل بن عمرو، صفوان بن اميه او دعکرمه بن ابی جهل په نومونو ليکل شوی و،دادريواړه دمکې دفتح وروسته په اسلام مشرف شول رضی الله عنهم (زرقاني ۲ټوک: ۲۹۸مخ)

اوپه يوبل روايت کې دي چې دليک مضمون داسې و:

اِنّ محمداً قدنفرفَاما اِلَيکم واِمّا اِلی غيرِکم فَعلَيکم الحذر

ژ:په تحقيق سره محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غزاته تلونکی دی،معلومه نده چې کوم لورته دتګ قصدلري ستاسولورته اوکه کوم بل طرف ته؟ پخپله فکر وکړئ (زرقاني ۲ټوک ۲۹۸مخ)

الله تعالی دحاطب دا واقعه په ممتحنه سوره کې نازله کړه:

يَاَيُّهَا الَّذِينَ لَا تَتَّخِذوا عَدُوِّی وَعَدُوَّکُم اَولِياء تُلقُونَ اِلَيهِم بِالمَوَدةِ

په کوم کې چې الله تعالی دکافرانو سره دوستانه تعلقات بيان کړي د نور تفصيل لپاره دې دياد سورت تفسير وګورئ

دمدينې څخه روانيدل:

رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درمضان المبارک مياشت کې دلس زره کسيز لښکرسره يوځای دمازيګر لمانځه وروسته له مدينې منورې نه دمکې مکرمې په لور روان شو (بخاري، فتح الباري۸ټوک ۲مخ)

دازواج مطهرات نه اُم سلمه اوميمونه رضی الله تعالی عنهما په دې سفرکې ورسره وې کله چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذی الحليفه يا جحفه مقام ته ورسيد نوحضرت عباس د خپل اولاد سره يوځای دمکې نه دهجرت په نيت مديني ته روان و، درسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخ شو،رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ارشاد : دهغه خپل سامان اوتوکي مدينې ته وليږل اوپخپله هغه(عباس) يې بيرته ځان سره په لښکرکې بوته، حضرت عباس وړاندې ايمان راوړی وخو دقريشونه يې خپل اسلام پټ ساتلی و، رسول الله ورته وفرمايل :

اې عباسه! داستا وروستی هجرت دی څنګه چې زما نبوت وروستی نبوت دی

اوحضرت عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په مکه کې درسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حکم پاته و اودقريشو خبرونه به يې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته رسول. مسندابی يعلی او معجم طبراني کې دي چې په مکه کې داوسيدو په زمانه کې حضرت عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ درسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دهجرت اجازت وغوښته خورسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ور ته ځواب وليکل چې:

کاکا! ته پخپل ځای اوسه، الله تعالی به په تاباندې هجرت پای ته ورسوي څنګه چې يې په ماباندې نبوت ختم کړی (زرقاني ۲ټوک ۳۰۰مخ)

اوپه ابواء مقام کې ابوسفيان بن حارث (۲) عبد الله بن ابی اميه داسلام راوړو په موخه راغلل،

هغـوی دهجـرت پـه غـرض مـدینې تـه روان وو، ابوسفیان بن حارث بن عبـد المطلـب درسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دتره ځوی و او ددینه علاوه رضاعي ورور يې هم و، هغه هم دحلیمه سعدیه پـې څکلـې وې او دنبـوت نـه وړانـدې درسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې ملګر ی و چې هیڅ وخت به درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه،نـه جلاکیـده،دبعثت نه وروسته محبت يې منقلب په عـداوت شـو او درسـول اللـه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پـه هجـوَ کـې بـه يـې شـعرونه ویـل،چې دهغـه ځـواب حضرـت حسـان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورکاودابوسـفیان بـن حـارث سره دهغه ځوی جعفرهم و

اوعبـد اللـه بـن ابـی امیـه درسـول اللـه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دترورځـوی و، یعنـې درسـول اللـه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دترور عاتکه بنت عبد المطلب ځوی و، داهـم درسـول اللـه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دسرسـختو مخالفانوڅخـه و، دواړو درسـول اللـه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې دورتلو اجـازه وغوښـته لـیکن داچـې دې دواړو رسـول اللـه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تـه سـخت تکلیفونـه رسـولي وو پـه دې وجـه رسـول اللـه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغـوی سره دلیدلونـه انکـار وکړ او اجـازه یـې ورنکـړه، اُم المـؤمنین ام سـلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته سفارش وکړ او عرض يې وکړ:یار سول الله یـو ستا دتره ځوی دی اوبل ستا دترور ځوی دی.

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

ماسره د دوی دلیـدو ضرورت نشـته ، دتـره ځـوی زمـاابرو ریـزې کـړې اوترورځـوی مـې هغـه شخص دی چې په مکه کې يې ویلي و: پـه خـدای سوګند زه بـه پـه تـا ایـمان رانـه وړم کـه تـه پـوړی ولګوي او اسمان ته وخیـږي او زه تـا پخپلـو سـترګو ویـنم اوبیـا تـه یـوه مسـوده راوړې داسـمان څخـه رابنکته شي اوڅلور فرښـتې تـاسره یوځـای ملګـرې وې او هغـوی دا ګـواهي هـم ورکـړې چـې تـه الله جَلَّ جَلَالُهُ رسول لیږلی يې بیـا بـه هـم زه پـه تـاایمان رانه وړم

اُم سلمه عرض وکړ: یا رسول الله ستا دمکارم اخلاق نه امید دی چې ستا دنعمت له دسـترخوان څخه ستا دتـره ځـوی او دترورځـوی ترټولـو زیـات محروم اوبدنصیب پاته نشي ستا ترحم اوعفو عامه ده نو دوی دي ولې محروم وي:

اقربا راکجا کنی محروم

توکه بادشمنان نظر داری

ددې غاړې نه ابوسفیان بن حارث وویل چې:

که ته موږ ته دحاضرۍ اجازه نه راکـوي نـوزه داخپل ځوی جعفرځان سره بـوزم اوکـومې صـحرایا ځنګل ته زم اوهم هلتـه ترهغـه اوسـم چـې دلـوړې اوتنـدې نـه مړشـم رسـول اللـه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دأُم المؤمنین شفاعت قبـول کـړ اوهغـوی دواړو تـه یـې دورتلو اجازت وکړ او دواړه په اسلام مشرف شول او دمسلمانانو سره یوځای مکې ته روان شول.

حافظ ابن عبد البر او محبّ طبري راوي دی:

چې حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ابوسفيان بن حارث ته دا مشوره ورکړه چې ته درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دمنور مخ په وړاندې ودريږه او او هغه ووايه چې ديوسف عليه السلام ورونو ويلي و:

تَاللَّهِ لَقَدْ آثَرَكَ اللَّهُ عَلَيْنَا وَإِن كُنَّا لَخَاطِئِينَ

ژ: سوګند په الله تعالى بيشکه تاته يې په مورږ باندې فضيلت راکړى اويقيناً مورږپه خطاء وو! کله چې دهغه دخولې نه پورته ايت الفاظ ووتل، درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارکه ژبه راغلل:

لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ۖ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ (۹۲)

ژ: نن ورځ په تاسوهيڅ الزام او ملامتيا نشته، الله به ستاسې کوتاهې اوبښې هغه ترټولو مهربانو لوى مهربان دى(سوره يوسف ايت: ۹۲)

دابوسفيان معذرت يې قبول کړاو درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې ارشاد له مخې: چې (أَنَّ الإِسْلامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ) اسلام ټول پخواني ګناهونه له منځه وړي دابوسفيان بن حارث ټول پخواني ګناهونه يې هم له منځه ويوړل او تياره زړه يې داسلام او ايمان په رڼا روښانه شو چې په همدې شيبو کې دالله او دهغه درسول په لار ه کې روان شو

مولانا محمد ادريس کاندهلوي رح په سيرة المصطفى کې ليکلي : چې ابوسفيان بن حارت ټول ژوند بيا دحياء په وجه درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لور سترګې نه پورته کولې اورسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته دجنت ګواهي ورکړه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(زرقاني ۲ټوک۳۰۰-تر۳۰۲)

اوبيا دهغه وروسته دهغو اشعارو باندې ډيرپښيمان و چې دشرک په مهال يې درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هجوَ کې ويلي وو او دهغو دجبيرې لپاره يې درسول الله په مدح کې شعرونه ويل چې نمونه يې دا لاندې څو بيتونه دي:

عَمْرُكَ إِنِّي يَوْمَ أَحْمِلُ رَايَةً
لِتَغْلِبَ خَيْلُ اللاَّتِ خَيْلَ مُحَمَّدِ
لَكَالْمُظْلِمِ الْحَيْرَانِ أَظْلَمَ لَيْلُهُ
فَهَذا أَوَانِي حِينَ أُهْدَى فَأَهْتَدِي
أَصُدُّ وَأَنْأَى جَاهِدًا عَنْ مُحَمَّدٍ
وَأُدْعَى وَإِنْ لَمْ أَنْتَسِبْ مِنْ مُحَمَّدِ
هَدَانِيَ هَادٍ غَيْرُ نَفْسِي وَدَلَّنِي
عَلَى اللَّهِ مَنْ طَرَّدْتُ كُلَّ مُطَرَّدِ

اوعبد الله بن ابى اميه هم داسلام راوړو وروسته داحال شو چې دحياء په وجه هغه هم رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته به نيغ نه کتل

کوم وخت چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دمدينې منورې نه روان شو هغه مهال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوصحابه روژه وو، کديد (دمکې نه اويا ميله په فاصله) نوم ځاى ته چې ورسيدل ددې لپاره چې صحابه په مشقت کې مبتلى نشي، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پخپله روژه ماته کړه

اوصحابه وو هم درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اقتداء کې روژه ماته کړه (بخاري)

اول سفر فی نفسه دستړیا او مشقت څخه ډک وي او بیا دجهاد سفر خو نور هم درونـد اوسخت وي اوبیا دګرمۍ په موسم کې، په دې وجه يې روژه ماته کړه زکه په داسې حالت کې که ژوره ونیول شي نو دضعف او کمزورۍ په وجه دجهاد فی سبیل الله فریضه نشي۔ اداء کولی په همدې وجه حدیث کې شریف کې راغلي:

لیس من البرِّ الصیامُ فی السفر

ژ: په سفر کې روژه نیول نیکې او ثواب نه ده

هو! که دجهاد سفر نه وي اوپه سفرکې کوم خاص مشقت نه وي بیا روژه نیول غوره دي، درمضان روژو اګرکه قضاء راوړل کیدای شي خو درمضان دمیاشتې هغه انوارات، تجلیات او هروخت دفرښتو دعروج و نزول برکات، دشیاطینو تړل کیدل، دجنت او رحمت دروازو پرانیستل، دجهنم دروازو بندیدل او دقرآن تلاوت شپه ورځ کول او دزکر وتسبیح وتهلیل په مجلسونو کې دفرښتو ګډون داهرڅه درمضان میاشتې علاوه په نورو میاشتو کې بیا په لاس چاته ورتلی نشي۔ په دې وجه الله تعالی فرمایلي:

« وَأَن تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ»

یعنې دناروغانواومسافرو لپاره اګرکه روژه ماتول جایزدي خورژوه نیول ورته غوره دي او همدا دامام اعظم ابوحنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ مسلک دی چې په سفرکې روژه نیول افضل او اولی ده دمکې فتح په اراده چې لس زره کسیز لښکر پیاده سفرکاوه هغوی دفي سبیل الله جهاد او داعلاء کلمة الله په غرض و، دهغوی لپاره دلمانځه تاخیر هم روا وه، کوم چې دروژې نه زیات افضل دی او ددین ستنه ده او دالله تعالی په لاره سراوځان ځارول هغه نعمت دی چې په اسمان کې فرښتې یې هم په لیدورشک کوي په دغه مهال کې دتسبیح تحمیدو تهلیل او دملائکو دنزول نه هم مستفید کیدای نشي خو دخدای جَلَّ جَلَالُهُ په لار کې دسرځارولو او قربانۍ په ورکولو سره په زرګونو او لکو داسې منازل طی کیدای شي چې هغه زرکونه ځله هم تسبیح وتهلیل وکړای شي نشي۔ ترلاسه میدای یعنې دخدای تعالی دقرب هغه مرتبه نشي حاصلولی کومه چې په جهاد کې په څو قدمونوپورته کولو ترلاسه کیدای شي، په ښکاره اووه میله سفر کړی وي خو په حقیقت کې یې دسبع السموات نه هم بره تلی وي، نود مجاهد ببرمبرسر،لوخ سر،لوڅې پښې یا لوخ تن الله ته ګران دی او هغه (مجاهد) په خدای جَلَّ جَلَالُهُ ځان پلورلی دی چې په بدل کې الله تعالی ورته دجنت ورکولو وعده کړې نوپه دې وجه دمجاهد شان ومرتبه دیو عام مسافرنه په زرګونه ځله لوړه ده او هیڅکله دعام مسافر حال دمجاهد حال او مقام ته نه رسي

نوربیا...

سعد کتوازی

د شهید ملا عبد القهار متوکل رحمه الله

ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

تاریخ په خپله لمنه کې د نړۍ ډېرې پېښې را ټولې کړې او را نغاړلې دي، زما په فکر د لومړي اسلامي تمدن له نوښتونو را نېولې د افغانانو تر اوسنيو سرښندنو پورې مسلمانان او بيا افغانان تر ټولو نورو زرين او لوړ تاريخ لري، له دې پېښو يو هم له نن څخه دوه نېمې لسېزې مخکې په ۱۴۱۵هجري کال د افغانستان په خاوره د طالبانو جهادي غورځنګ را ښکاره کېدل د رواني يوښتمې پېړۍ يوه خورا ستره پېښه وه چې ورسره پخواني اسلامي تمدن او خلافتونو ته د افغان ولس او يو بشپړ ملت ور ګرځېدلو هيلې را و ټوکېدې، خو نه دا پېښه له قربانيو او سرښندنو پرته را منځته شوې وه او نه يې پنځولې هيلې پر مفته پوره کېدای شوې، بلکې يادغورځنګ يې ټول تر کومې تېراوه او دا د هغه لپاره يو ستره ابتلاء او ازمون و.

خو دا چې د طالبانو غورځنګ په نړيواله کچه يو غښتلی او غوره مدبريت لاره؛ نو د ورځو په شمېر موده کې يې ملي بڼه خپله کړه او د افغان غوندې يو غيور او باتور ملت له هر اړخيز ملاتړ څخه برخمند شو، يو بېلګه ابز اسلامي حکومت او نظام شو، بېرته و نړول شو، د غورځنګ ۸۰٪سلنه غړي له منځه لاړل، شهـــــيدان ــ معيوب ــ أسيران او ياهم منفک شول، خو ملي غورځنګ تر يو مدبر او غښتلي مدبريت لاندې نه ماتېږي، نه مورال له لاسه ور کوي، نه له خپلو غوښتنو او ارزښتونو يوه لوښت شاته کېږي او نه هم خپلو قربانيو او ارزښتونو ته شا او پرې معاملې کولو ته تيارېږي.

همدا دی چې د طالبانو جهادي غورځنګ په هماااااغه ملي بڼه خو څو برابره زياتو او لوړو موخو او لاسته راوړنو سره د خپل عمر پر۲۶ کال کې ګام اېښی او د هېواد ټولېزې، خپلواکې او ملي واکمنۍ ته په را ګرځېدو دی، د دې غورځنګ په وړاندې ځانته د دنيا لومړۍ رتبه ويونکې أمريکا اشړبان او ناټوغړي هېوادونه ټول دېته اړ دي چې د خپلې ماتې په سوغات کې د طالبانو ملي غورځنګ د يو قوي سياسي ځواک په توګه و مني لکه چې امريکا، چين اوروس منلی دی، له شک پرته دا د خدای پاک له پرلپسې مرستې وروسته د ياد غورځنګ د حقانيت او رښتونولۍ نښه او د قربانيو رنګ دی بل هېڅ نه.

لاندې د دې غورځنګ د يوه نوموتي مجاهد ژوند پاڼه په څو ټکو کې کاږم، د شهيد ملا عبدالقهار متوکل رحمه الله د تګلاري او تګلوري که د اوږدو او نا پېيلو کېسو په بڼه ژوندۍ بېلګې را أخلو نو له يوې خوا هغه له شمېره وتلې له بلې خوا د متوکل رحمه الله بارز شخصيت ټولو ته مالوم دی او اړتياييې نه ليدله کېږي، له همدې أمله به يې په لنډه توګه دومره څه ياد کړو چې دغه اوږدې او ناپېيلې کيسې او همداراز يې ترسره کړيو چارو او کارنامو تړې سرچينه أخښتې او د هغه رحمه الله د ژوند لويه برخه جوړ وي.

زوکړه او زدکړې يې: شهيد ملا عبدالقهار متوکل رحمه الله د أمير خان زوی او په قوم علېزی هغه تاند ځلمی چې د خپل جهادي يون په پيل کې د عبد القهار فاتح په نوم هم يادېده په۱۳۶۱لمريز کال د پکتېکا ولايت، ډېلي ولسوالۍ د چروډې کلي په يوه غريبه، علم دوسته او مجاهده کورنۍ کې زېږېدلی، پوره۱۵کاله له زرګونو کېلومتره لېرې څخه راغليو صلييبيانو او د هغوی له أجبرو

سره په پوره مېړانه او متانت و جنګېد، د خپل ژوند دوه برخي يې په همدې لاره کې سپر کړې او په همدې لاره يې خپل علمي او جهادي ژوند د شهادت پر ستر ويار پای ته و رساوه او نور له غورځنګه و لوبد رحمه الله.

شهيد ملا عبدالقهار متوکل رحمه الله لومړنی او منځنی ديني زدکړې د کلي له ملا امام، د سيمې له مولوي عبدالمتين صيب ـ مولوي رازمحمد صيب ـ مولوي نورمحمد صيب څخه کړې وې، له دې پرته د هجرت په ديار کې د لورلايي سيمې په ژېړ کلي کې له مولوي بسم الله صيب څخه او په ګڼو نورو سيمو او مدرسو کې هم زدکړې ترلاسه کړې وې، خو لوړې زدکړې ترې په دې وروستيو کې د جهادي بوختياو له أمله پاتې شوې وې.

د اسلامي امارت په واکمنۍ کې يې درسونه ويل د ځوانۍ او طالبۍ يې ګډ مهال و، نږدې ۲۰کاله عمر يې درلود چې په افغانستان امريکايانو يرغل وکړ، کورنۍ او مشر ورور يې عبدالرازق فقير رحمه الله چې د مجاهدينو يوه ډلګۍ يې هم درلوده ورته يې د جهادي فعاليت اجازه ورنکړه ترڅو ديني زدکړې پر مخ يوسي او د نوي جهادي بهير له أمله تري نېمګړې نشي.

د جهاد پيل يې: ملاعبدالقهار متوکل رحمه الله کله څه هم کشر و او سبقونو يې دوام درلود خو د ځوانۍ په دې پسرلي لا هم د جهادي فکر څښتن او له دغې ولولې څخه سرشاره و، په ۱۳۸۳لمريز کال د سيمې له يو بل طالب ملاعبدالله سره د جهاد په تکل پټ د کندهار پنجوايي ولسوالۍ ته لاړ او دا يې د وسلوال جهاد پيل و، له هغه وروسته له خپل ورور عبدالرزاق فقير رحمه الله سره ملګری شو، د عبدالرزاق فقير رحمه الله له شهادت وروسته د هغه ورور ملامحمد اخند د هغه ځای ناستی و ټاکل شو او شهيد متوکل رحمه الله له ملا محمد اخند سره شو، د جهاد مورچلونو د ګرم ساتلو ترڅنګ سبقان هم ويل او د شهادت تر ورځې له ملا محمد اخند سره و.

نومورې رحمه الله په خپل جهادي ژوند کې نه هېرېدونکې خدمتونه ترسره کړې، د پکتېکا، غزني او ننګرهار په ګڼو سيمو او ولسوالیو کې يې جهادي فعاليتونه کړي او په تېر۱۵کاله کې ترسره کړې کارنامې يې د پخې جګړه ايزې تجربې ښکارندويي کوي، د هغه ښې وړتيا ته په کتو کله چې شهيد أمير المؤمنين منصور صاحب رحمه الله له لوري د قطعو ترتيب و نېول شو ملاعبدالقهار متوکل رحمه الله د قطعې د يوې سريې مشر و ټاکل شو او له همدې مسئوليت سره تړې لوړې زدکړې پاتې شوې، د پکتېکا ولايت د ښرني/مرکز، مټاخان، اومنې، خوشامند، ياخېلو، يوسف خېلو، خيرکوټ، جانېخېلو، ډېلي، وازه خواه، وړمې او تروې ټولو۱۲ولسوالیو په سترو عملياتو کې يې ګډون درلود او زياتې لاسته راوړنې يې درلودې، د يوې لنډې مودې لپاره چې د قطعې معاوين حج ته لاړ د هغه په نيابت يې د قطعې چاري په خورا ښه توګه ترسره کړې.

د۲۰۱۰زېږديز کال د جنورۍ په۱۴مه د غزني په اب بند کې د دښمن په عسکرو کامياب کمين و واهه، په ۱۳۹۴ لمريزکال د وازيګواه ګواشتې سيمې۷پوستې د شهيد متوکل رحمه الله په مشري فتحه شوې، د اومنې ولسوالۍ په فتحه کې هم متوکل يو کليدي رول درلود، په خوشامند کې يې د يو بريالي کمين په وهلو سره د دښمن محاصره درې وړې کړه، د۱۳۹۶لمريز د لړم مياشتې په۳مه د تروې ولسوالۍ کې د شهيدمتوکل رحمه الله په مشرۍ عمليات پيل شول چې نږدې۲۰ورځې يې دوام وکړ، د ګومل له فتحې وروسته د۲۰۱۸زېږديز کال په لسمه مياشت کې پېراغا د هغه رحمه الله په مشرۍ يوه سريه د ننګرهار خوګيانو ته و لېږله چې رسمي وخت يې۴۰ورځې و خو هلته يې دوه مياشتې تېرې کړې، روان۱۳۹۷لمريز کال په داسې حال کې چې د يوې سريې مشري يې هم په غاړه درلوده د اومنې ولسوالۍ جهادي مسئول و ټاکل شو او د دې ولسوالۍ د زواکۍ په نوم ليرې پرتې سيمې د دښمن مهم ميشت ځای او پوستې يې فتحه کړې، له دې پرته يې په ګڼو نورو پروګرامونو کې

برخه أخېستې وه، لکه د غزني په مقر او آب بند ولسوالۍ او چوله سېمه کې په کاروانونو عملیات، تېرکال د ګومل فتحه او داسي نور...

شخصیت یې: د شهید ملاعبدالقهار متوکل صاحب رحمه الله د خوی او عادت، ساده ټولنیز او انفرادي ژوند، جهادي هلو ځلو، فداکارۍ، له ملګرو او ولسي ـ وګړو سره په زړه پوري چلند او برخورد، له مشرانو سره اړیکو او هغوی ته یې درناوي، جګړه ایزې وړتیا او بصېرت، جرأت اومېرانې، د جهاد په لاره کې ستړو او خواریو، جهادي اهدافو ته وفا او تعهد په اړه که هرځومره و وایو لیږ به وي.

شهید متوکل رحمه الله د تدبر، اخلاص، تقوا، متانت او ښې وړتیا نمونه، د مېرانې، جرأت، ثبات، حوصلې او ایثار مجسم منار او د هغو ټولو ځانګړنو څښتن مشر ـ و چې یو د لوړې سویې بریالی قوماندان یې باید ولري، هغه د ښې کار ګردګۍ جهادي بصېرت او د اسلامي امارت اهدافو ته د تعهد پر مټ د مشرانو ترمنځ ځانګړې رتبه ترلاسه کړې وه، د پکټیکا له جهادي مسئول محترم پیراغا صیب او د قطعې معاوین سیلاب رحمه الله او بیا ذبیح صیب سره یې نږدې اړیکې او سلامشورې درلودې، مشرانو په هغه رحمه الله قوي باور او هغه ته زیات درناوی درلود او د قطعې د یوې سریې مسئولیت یې ور د غاړې کړ، د خپلو پروګرامونو په اړه یې ور سره بحث او مشورې کولې او د هغه رحمه الله خبره یې له پوره پاملرنې سره اوربده، د وازیخواه ولسوالۍ نوموتی مجاهد محبوب الله صادق چې له متوکل سره یې د ننګرهار خوګیانو په سریه کې هم برخه أخیستې وایي د داعش په وړاندې د خط مشر د خط زیاتره چاري شهید متوکل ته سپارلې وې.

شهید ملا عبدالقهار متوکل رحمه الله د غښتلو متو، مهاب او جذاب هیکل څښتن خو له دې سره سره یو خورا متواضع او سپین زړی شخص و، له هر ډول تکلفه خالي او ساده ژوند یې کا وه، د مشرانو په اطاعت او همدارنګه د اسلامي امارت اهدافو ته په وفا او ژمنتیا کې یې بېلګه نه درلوده، د وسلوال جهاد په ډګر په هره دنده پوهه او ور کې غښتلی و، په دې لاره کې یې شپه او ورځ په ځان یو کړي او ډېري سړې تودې یې هم ګالل وې، په ۱۳۹۰لمریز کال کې یې مشر ـ ورور عبدالرزاق فقیر رحمه الله اشغالګرو او ګوډاګیانو په خورا وحشت په شهادت و رساوه چې وروسته یې د هغه جسد ته اور ورته کړ، د جهاد په پیل کې له کندهار څخه ببرته خپلې سیمې ته د راتلو په مهال د کندهار په شکاپور سیمه کې و نېول شول او له لس ورځې سخت تعذیب وروسته د پیسو په بدل کې را خوشې کړل شول، همدارنګه یو ځل د ګومل ولسوالۍ په غرونو کې چې پیاده روان و د بنګنې تر بریدلاندې هم راغلی، د پکټیکا جانخېلو ولسوالۍ په شاطورو پوستې باندې د عملیاتو په مهال ځخمي شو ا داسي نور.

شهید ملاعبدالقهار متوکل رحمه الله د بریالیتوب رمز او راز له مجاهدینو ملګرو او عامو وګړو سره په ښه تعامل او برخورد کې و، هغه د ښو أخلاقو او نرم مزاج ترڅنګ یو خوښ تبه، خوږمن او خندان ځوان و چې له امله یې د ټولو په زړه کې ځای درلود، مجلس به له هغه رحمه الله پرته نیمګړی برېښېده، له عامو وګړو سره یې ښکې نرم او پوست چلند کاوه، چا ترې بده خاطره نه لرله او نه یې ترې کوم بد اوربدلی او لېدلی و، له همدې أمله چې به هغه رحمه الله چېر ته لاړ د هغه ځای خلک به یې ډېر زر پرځان راټول او رامات کړل او بیا نه یواځې دا چې پرمختګونه به یې زیات و بلکې د ده په هڅو د ډېرو خلکو اندېښنې ځوابېدلې او د مکار دښمن توطیو ته یې راوښنول، محبوب الله وایي په ننګرهار کې د خط د مشر ـ په ګډون ټول مجاهدین ترې زیات خوښ و، هغه ټولوته یو منلی شخص و او له همدې أمله د شهید متوکل رحمه الله سریې هلته تر رسمي وخت زیاته موده تېره کړه.

ځیني خاطرې یې: د شهید ملا عبدالقهار متوکل رحمه الله په وینه کې مېرانه او جرأت أغښتل شوي و، د وېرې، په هرځومره سخت حالت کې به نورمال و، د وارخطایي او

پرشاتګ په نوم يې څه نه پيژندل، د وفادار په نوم د هغه يو ملګرى وايي د آب بند ولسوالۍ په ړند خېلو سېمه کې مو پر عسکرو کمين و واهه، جنګ پيل شو دوى وېرېد تـه ځـان جوړاوه چې شهيد متوکل په منډه له کمينـه ور پاسـېد ځلـور واړه يـې قتـل او د هغـو ثقـيلان يـې تـرې ولجـه کـړل، همدارنګه د احمد په نوم د شهيد متوکل رحمه الله ملګرى وايي په ګومل کې سره روان و چې د ډرون فائر راباندې وشـو او شهيد متوکل رحمه الله يو لور ته وغورځېد، چې را پورته شـو لـه ځانه يې خاورې ټکوهلې او ويل يې خداى پاک ښه ساتلي يو او ښه ژوند يې را کړى دى.

محبوب الله صادق وايـي چـې مـا لـه شـهيد متوکـل رحمه الله سره په تروې، ګواشته، اومنه، ګومل او جلا آباد کې ملګرتيا کړې وه، هغه رحمه الله يو نه ستړي کېدونکى د پخـې تجربې څښتن مجاهـد او مـدبر مشر- و، دى وايـي د تـروې ولسـوالۍ د عمليـاتو پـه وار يـوه ورځ سـهار مهـال عسـکرو غوښتل پر مجاهدينو لاره بنده کړي، شـهيد متوکـل رحمه الله پرې کمـين و واهـه او يـو ناتـاره ډزې يـې پـر وکـړې خـو د دښمن عسکر له مقاومت پرته و تښتېدل.

محبوب الله وايې د ننګرهار په خوګيانو کې بـه متوکل شپه ورځ پيرې دروله وې او د ترصـد ملګـري به يې په شاوخوا کـې ځـاى پرځـاى کـړي و، يوځـل د شپې له مخې دښمن زمور په خط د چاپې هڅه وکـړه او ټانګـان يـې خـط تـه د ننـه کـړل، متوکـل رحمه الله پـه ملګرو غږ کړل چې هـېڅ مشـکل نـه دى ځانونـه تيـار کړئ، له دې سره سم له واره په راغلي دښمن تندرېز بريدونه پيل شول هغه و چې د مجاهدينو په غبرګـون لېدلو دښمن د تښتې لاره خپله کړه، دى وايي له دې پرته هم د شهيد متوکل رحمه الله په مشرۍ پر داعشيانو چريـک او تکتيکـي بريدونـه وشـول چـې دولـس داعشيان پکې له منځه لاړل، ټولو ملګرو يـې زړورتيـا منلې وه.

محبوب الله وايي د اومنې په فتحه کـې د يـاخېلو لـه لوري د اجېرو شوبلې د اومنې مربوط سيمې تـه را ورسـېدې او پر مجاهدينو له دوو خوا وو بريدونه کېدل، ماښام مهـال شـهيد متوکـل رحمه الله د ۱۲ ملګـرو پـه ملتيـا مختـه ورغلـل او سنګر يې و نېوه، سهار لمرځرک يې پر راغلـې قـوه لړزونکـې بريدونه پيل کړل او دښمن د تلفاتو په لېدو ښېرته يـاخېلو تـه و تښتېده، شهيد متوکل رحمه الله هم د اومنې مربوط پوستو ته را و ګرځېد او ټوله ورځ يې همدلته په عملياتو کې تېره کړه.

شـهادت يـې: دا چـې شـهيد ملاعبدالقهار متوکـل رحمه الله د خپل فعاليت په هرځاى کې د دښمن لپاره په لويه سرخوړې اوښتى و نو ځکه هغه ته ډېر مطلـوب و، د شـهيد متوکل رحمه الله د له منځه وړلو او شـهادت لپـاره چـې دښـمن څومره هڅې کړې، په مخامخ بريدونو کې يې د متوکـل پـه نښه کولو زحمت او خواري کښـلې هغـو ملګـرو او خلکـو تـه ښه درک شته چې په تېرو لږ تراړه پېښځو کلو پـه اوږدو کـې يې په خپله لېدلي اوږدلي دي.

د خـداى د لارې دغـه سـپاهي، د اسـلامي امـارت غورځنګ په يوه سخته ستړې او ازمايـشي مرحلـه کـې يـوه نېمه لسېزه په لوړ مورال او فولادي عزم لوښـدونکى شـهکار او د تانـدې ځـوانۍ ځښـتن شـهيد مـلا عبـدالقهار متوکـل صاحب رحمه الله د ۳۶ کالو په عمر له خپـل يـوه ملګـري حسـن خـان امـين او يـو د فـدايي پـه نـوم بنـدي وګـړي سره د ۱۳۹۷ لمريز کـال ۲۸/۸/ هغـه مهـال چـې د اومنـي ولسـوالۍ سفني بازار ته ځېرمـه د سـيدخيل کـلي پـه درې کېلـومترۍ کې په لاره و د امريکايې بې پيلوټه الوتکي تر بريـد لانـدې راغلل او د شهادت لوړ مقام تـه ورسـېدل (انالله وانـا اليـه راجعـون)، شـهيد متوکـل رحمه الله ترشـا مـور او پـلار، ځلـور ورونه، پېنځـه اولادونـه، يـوه تـور سرې او پـه خپلـه روحيـه سمباله سريه پرېښودل، روح دې يې ښاد او ياد دې يې تل ژوندى وي.

جنګي جنایتونه (فبروري)

سید سعید

د ۲۰۱۹ز، کال د فبروري دمیاشتې په ٦مه نیټه د میدان وردګ ولایت د جلګې ولسوالۍ د رشید او نازک خېلو په سیمو کې یرغلګرو او داخلي عسکر چاپه وهلې، څو کورونه او یوه دیني مدرسه یې نړولې او د دیني عالم مولوي عبدالرحمن په ګډون یې څلور تنه کلیوال بندیان کړي دي.

د فبروري په ٦مه دهلمند ولایت دموسی کلا ولسوالۍ د شابان په سیمه کې دیرغلګرو په ډرون حمله کې درې تنه ملکي وګړي چې په موټر کې سپاره وو، شهیدان شوي دي.

د فبروري په ٦مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ د ښورکي په سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال څلور تنه ملکي وګړي شهیدان او دوه تنه ټپیان کړي دي.

د فبروري په ٦مه دننګرهار ولایت د لعلپورې ولسوالۍ په چکنور او رحمتي سیمو کې اشغالګرو او حکومتي عسکرو څلور تنه ملکي وګړي شهیدان او یوه میرمن ټپي کړې ده.

د فبرروري په ۸مه شپې مهال دهلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ د څاروان قلعه ، پوزکي ، خانانو اوبارکزي کلیو کې اشغالګرو او حکومتي عسکرو چاپه وهلې او بمبار یې پرې کړی،په دغه بمبار کې دیوې کورنۍ پنځه تنه نارینه، یوولس تنې ښځې او ماشومان شهیدان شوي او پنځلس تنې میرمنې او کوچنیان ټپیان شوي دي. همداراز

په د ې چاپه کې ګډو ځواکونو یو مسجد،دري کورونه ،دوه دوکانونه او اته عرادې موټر سوځولي دي.

د فبروروي په ۸مه دهلمند ولایت د ګرمسیر ولسوالۍ د دیوالا په سیمه کې دیرغلګرو په ډرون حمله کې یو کور ویجاړ، یوه میرمن شهیده او یو ماشوم زخمي شوی دی.

د فبروري په ۸مه د خوست ولایت دصبریو ولسوالۍ په مربوطاتو کې اشغالګرو او د چټک غبرګون داخلي عسکرو دچاپې په مهال شپږ تنه ولسي وګړي شهیدان او ټپیان کړي او دخلګو نقلیه وسایط یې سو ځولي دي.

د فبروري په ۹مه د لوګر ولایت د ازرې ولسوالۍ تنګ سیمه کې یرغلګرو او کابل رژیم یو ډاکټر شهید کړی او دوه تنه نور کلیوال یې د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د فبروري په ۹مه د کونړ ولایت دمنوري ولسوالۍ په پتاو کلي کې اشغالګرو اوداخلي عسکرو دچاپې په مهال درې تنه ولسي ـ وګړي شهیدان کړي او خلکو ته یې مالي تاوان هم رسولی دی.

د فبروري په ۹مه د لوګر ولایت اربکیانو د ښوونځي استاد «نورالدین ستانکزی» شهید کړی دی.

د فبروري په ۱۳مه دفراه ولایت دخاکسفید ولسوالۍ د رنج په سیمه کې حکومتي عسکرو پر یو سیمه ایز کلینک چاپه وهلې، یو واکسیناتور (غوث الدین) او یوډاکټر (احمد) یې بندیان کړي،همداکلینک د ایارسي په نامه دیوې موسسې اړوندو.

دفبروري په ۱۴مه د فاریاب ولایت د شیرین تګاب ولسوالۍ په تاش قلعه سیمه کې دحکومتي قواوو دهاوان په بریدکې دوه تنه ملکي وکړي شهیدان شوي دي.

د فبروري په ۱۸مه د کاپیسا ولایت دتګاب ولسوالۍ بدراب سیمه کې اشغالګرو دکورنیو عسکرو په ملتیا د (حمید المدارس) په نامه یوه لویه ديني مدرسه سوځولې،سوځول شوې مدرسه دستر صوفي میاګل جان اغامدرسه او خانقاه وه، یادې شوې مدرسې سل کلن تاریخ درلوداو زرګونه عالمان ترې فارغ شوي وو، دځایې خلګو په وینا ګډو ځواکونو ددې مدرسې سره نژدې بازار کې دخلکو ګڼ دوکانونه هم سوځولي دي.

د فبروري په ۱۸مه د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ په ټټنګ میاګانو سیمه کې یرغلګرو او حکومتي ځواکونو دچاپې په مهال اته تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان کړي او خلګو ته یې درواند مالي تاوان هم رسولی دی.

د فبروري په ۲۲مه یرغلګرو او حکومتي عسکرو د میدان وردګ ولایت دجلګې ولسوالۍ په (شر توغي، چتو، درانیو او بابک) کلیو چاپه وهلې او وروسته یې پرسیمه بمبار هم کړی،په بمبارکې د شرتوغي سیمه د جګړن په نام یوه ملکي هیوادوال کور بمبار شوی اودنوموړي په ګډون د کورنۍ نهه تنه غړي یې شهیدان شوي دي. د

یاد شوي کلي مسجد هم بمبار شوی او پنځه تنه کلیوال په کې شهیدان شوي دي.همداراز په چتو کلي کې یې دوه کورونه ویجاړ کړي، درې تنه ملکي وګړي یې شهیدان کړي او ګڼ نور یې ژوبل کړي دي. په درانیو سیمه کې یې هم یو سپین ږیری شهید کړی، کور یې ورته تخریب کړی دی. د بابک په نوم کلي کې یې یوه دیني مدرسه بمبار او په یو مخیز ډول ویجاړه کړې او دمدرسې ساتونکی یې شهید کړی دی.

د فبروري په ۲۳مه د پکتیا ولایت د جاني خیلو ولسوالۍ د بل خیلو سیمې د ګړیژني په کلي کې یرغلګرو دچاپې په مهال دولسي- وګړو ګڼ کورونه په بمونو الوزلي او درې تنه ملکي هیوادوال یې شهیدان کړي دي. تیره شپه د ګډو ځواکونو لخوا یاد تخریبي عملیات داسې مهال ترسره شوي چې وړمه شپه هم ګډو ځواکونو په ورته عملیاتو کې په میدان وردګ ولایت کې شل ته عام کلیوال وژلي وو.

د فبروري په ۲۵مه د غزني ولایت دګیلان ولسوالۍ په رسني سیمه کې اشغالګرو یو کلینیک ویجاړ کړی او دهمدې کلینیک مؤظف ډاکټر (صدیق الله مسلم) یې شهید کړی دی.

د فبروري په ۲۶مه رسنیو خبر ورکړ دسرپل ولایت د سنګچارک ولسوالۍ په مربوطاتو کې دحکومتي ځواکونو په بمبار او توپچي ډزو کې ۳۰ کورونه ویجاړ او ۱۰۰ کورنۍ له سیمې کډوالۍ ته مجبورې شوي دي.

د فبروري په ۲۶مه د غزني ولایت دشلګر ولسوالۍ په مهمان او ګبرو سیموکې دیرغلګرو په دوو ډرون حملوکې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان او دوه نفره ټپیان شوي دي.

د فبروري په ۲۶مه د میدان وردګ ولایت دچک ولسوالۍ د ګردن مسجد په دره کې ګډو ځواکونو پردوو کلیو (کوټ مغل او بیانان) چاپه وهلې، د کورونو دروازې یې په بمونو الوزولې، د سپین ږیرو په ګډون یې ګڼ کلیوال ټوله شپه یخنۍ ته کښینولي وو او په اخر کې یې دوه عام وګړي(هجرت الله او وفی الله) شهیدان او یو بل ملکي وګړی ژوبل کړی دی.

د فبروري په ۲۷مه د خوست ولایت دصبریو ولسوالۍ په عقبې اولیکړۍ کلیو کې دیرغلګرو په بمبارکې څلور تنه ولسي- وګړي شهیدان شوي او خلګو ته پراخ مالي زیان او ښتی دی.

د فبروري په ۲۷مه دفاریاب ولایت د پشتونکوټ ولسوالۍ د عرب اقسای په سیمه کې دداخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید او دوه تنه ټپیان شوي دي.

د فبروري په ۲۷مه دفاریاب ولایت دقیصار ولسوالۍ د برکه په سیمه کې دحکومتي عسکرو دتوپچي په ډزو کې یوه ښځه اویو نارینه زخمیان شوي دي .

مأخذونه : [بي بي سي راډیو،ازادي =، افغان اسلامي اژانس، پژواک = ، خبریال ویپانه، لراوبر= ،نن تکی اسیا=اوبینوا=]

د مورچل وږمي

تریخ غوړپ

نظام کندهاري

ستا خو نه ده دغه خاوره به زما وي
تا خو نه پرېږدو که زور وي که رضا وي

له تا کرکه کړي د دې ولس وګړي
که اعلی وي که اوسط وي که ادنی وي

راځه ځان ته له اوړو نه پوزه کېږده
خیر که سوله دې د ماتې په معنا وي

د شکست دغه تریخ غوړپ به تېروې ته
چاره نلري که نن وي که سبا وي

مونږ خو ستا کور ته په جنګ درغلي نه یو
خو یرغل به زمونږ په خاوره ستا له خوا وي

دا هیواد به ستا لپاره سور تنور وي
که ښارونه وي که غرونه که صحرا وي

دا خبره به مې یاد ساتې نظامه
دلته واک به د طالب او د مُلا وي

ستړي نه یو

عمر حماس

د یار څنګ ته رسیږو په دې لاره ستړي نه یو
اعدامه خوشالیږو درته داره ستړي نه یو

دا اوښکې مو چې څاڅي دې کې راز دخندا پورت دی
پام ویره له مرګ نه لرو اغیاره ستړي نه یو

له درده دې خوند اخلو او په څړیکو دې اباد یو
په زړور کې مو دیره اوسه پرهاره ستړي نه یو

مونږ لاره په غرمو کې وهو ځان رسوو یار ته
دمه نه کوو ځار دې شم چیناره ستړي نه یو

ځه لاړ شه په مخونو راته مه غورځیږي ګرده!
ځه لاړ شه لا تر اوسه مونږ غباره ستړي نه یو

دا لاره تاته لنډه ده درغلې مونږ خبر یو
پر دې لاره ذره پروردګاره ستړي نه یو

دیدن چې د جانان مو شي نصیب په اخري کې
عمره !مونږ له داسې انتظاره ستړي نه یو

دِيَت

فکرمل طالب

د حـــالاتو معـــبر تـــه ضرورت دی
د وطـــن واورې بـــې څـــه نـــه دي چـــې اوري

د رڼـــاوو پـــه جبـــين کـــې خوشـــحالي ده
د ماښـــام پـــه قـــول ښـــه نـــه دي چـــې اوري

د طـــالبو ســـتورو غـــږ يـــې اورېـــدلی
ضـــميرونه يـــې لا مـــړه نـــه دي چـــې اوري

پســـرلی خپلـــې ورځـــې دې لـــور تـــه شـــيندي
نســـيمونه لا ويـــده نـــه دي چـــې اوري

مـــونږ تـــه زيـــري را کـــوي د ازاديـــو
اوس وختونـــه بـــې خـــواړه نـــه دي چـــې اوري

د لېوانـــو مړينـــه دې چـــم کـــې ثـــواب دی
د دې چـــم زمـــري بـــې زړه نـــه دي چـــې اوري

دوی پـــه دې کيســـه خپـــه دي چـــې نـــه اوري
دوی پـــه دې کيســـه خپـــه نـــه دي چـــې اوري

لـــه درســـت کفـــر يـــې ديـــت وړو فکرملـــه
زمـــونږ وينـــې څـــه اوبـــه نـــه دي چـــې اوري

پسرلی

شکیب

آذان د اســتقلال او خپلــواکي تــه انتظــار يــو
بيــا د مــلا عمــر غونــدي ســړي تــه انتظــار يــو

ورکړې مودي ډېرې، ثمرې دقرباني ته انتظار يو
وطنه بيا دمنصور غوندی زمري تـه انتظـار يـو

چی د قدرت ښايست يې په اوبو کی لاهو دی
ورک دی خـزان شـي پســرلي تــه انتظــار يــو

هـر وخـت کفـارو چـې يرغـل مـو پـه وطـن راوړی
مدام پاڅون مو هم دی کړی بـري تـه انتظـار يـو

شکيبه بادشاهي او نظامونه ډېر مـو دي ليـدلي
مــونږ نظــام دامــارت اســلامي تــه انتظــار يــو

۲۰۱۹ زکال

د فبروري د میاشتې جهادي خبرونه



په دې وروستیو کې د امریکایي اشغالګرو او داخلي ځواکونو د وحشتونو په زیاتېدو سره
د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې زمونږ د مدرسو او جوماتو دغه حال دی!

دغه انځورونه د یو صحي کلینک دي چې د غزني د کیلان ولسوالۍ رسنۍ سیمه کې د امریکایي اشغالګرو لخوا په خورا
ډېر وحشت سره د یادې سیمې د بازار د دوکانونو په کډون ویجاړ او د کلینک موظف ډاکټر یې هم شهید کړ.

د برتانيې صدر اعظم ټوني بلير ته چې ويلي وو د يويشتمي پيړۍ د امنيت پربکړه به نن دهلمند په دښتو کې کيږي :

بلبره تقدير دې ليکل کيږي دهلمند په ټټر
ليدلی خوب مې تعبيريږي د هلمند په ټټر

دا مېرنتوب خو پرون هم سره تللی وو مور
خير دی بيا به معلوميږي دهلمند په ټټر

تاته به ياد وي د ميوند او لته بند خرپونه
نن به دې بيا درک لګيږي د هلمند په ټټر

بيا د يوسف صلاح الدين زامنو چيغه کړې
د صليب توغ به نسکوريږي د هلمند په ټټر

کړه پکړی له ايتم بم سره پنجه نرموي
لږ ورته ځير شئ څه تيريږي د هلمند په ټټر

سعيده تا چې کړه شروع د شاهي کوټ له غيږې
ها معرکه پسې غځيږي د هلمند په ټټر